امام ذهبي رحمه الله مزيد فرمايي : **بحيث يصدق عليه أن يقال كل حديث لا يعرفه ابنُ تيمية فليس بحديث ، ولكن الإحاطة لله ، غير أنه يغترف فيه من بحر وغيره من الأئمة يغترفون من السَّواقي.**

ژباړه : او دا ځکه چې رښتوني تماميږي دا خبره د هغه په حق کې چې وويل شي چې هر هغه حديث چې ابن تيميه يې نه پيژني نو هغه له سره حديث نه دى ، خو دومره ده چې احاطه د علم الله ته ثابته ده ، خو البته دا ده چې ابن تيمية د بحر نه لپې ډکوي او دده نه بغير نور امامان دا د وړو لښتيو نه لپې ډکوي . (ذيل طبقات الحنابلة ج٤ ص٥٠٠)

موصوف مزيد فرمايي **ولقد نصر السنة المحضة ، والطريقة السلفية ، واحتج لها ببراهين ومقدمات وأمور لم يسبق إليها.**

ژباړه : او يقينا دده خاص د سنت او د سلفيت د منهج نصرت کړى دى او د هغې اثبات يې په دلايلو او داسې مقدّمو او أمورو سره کړى چې هيڅ څوک هغې ته دده څخه نه دي مخکې شوي، (کتاب الذيل ج٢ ص٣٩٠)

قاضي أبو عبد الله بن الحَريري فرمايي : **إن لم يكن ابنُ تيمية شيخَ الإسلام فمن هو؟** ژباړه : که ابن تيميه شيخ الاسلام نه وي نو بيا به څوک وي ، (من أعلام المجددين ص٢٥)

هو همدا شيخ الاسلام دی

نولوستونکو فکر وکړئ هغه کوم تفردات دي چې د هغې په سبب يې د حق دشمنان کم عقله ګڼي يو داسې تفرد دې مونږ ته د هغه څوک پيش کړي چې هغه ورته د کتاب ، سنت او يا هم اجماع د امت څخه دليل نه وي نيولی ، بل داسې منقبت او عالي ميډال کوم چې تاسو وليده مسلمانان هغه چاته ورکوي چې هغه دې د کامل عقل نه برخمن نه وي؟ بس دا به روسته ثابته او په ډاګه شي چې د عقل کمی په چا کې دی او ددې نسبت اصل حقدار څوک دي او څه شي دغه باطل پرست او مشرکان ددې تهمت په لګولو مجبور کړي دي ، خو چې دلته د مسلمانانو مخې ته د مرتد صوفي دين مامد درواغ او تهمت څه په ډاګه کړو نو د يو څو اهل علمو هغه ثناء او مدح ذکر کوو چې هغوی د ابن تيميه رحمه الله متعلق کړې ده ،

نو واورئ! ابن تيميه رحمه الله هغه شخصيت دی چې د وخت او عصر منل شوی امام علامه شمس الدين الذهبي رحمه الله يې د جملو کمالي أوصافو د راګېرو لو څخه ځان عاجز ګڼي او فرمايي:

وهو كبرُ من أن يُنْبِه مثلي على نعوته ، فلو حلفت بين الركن والمقام لحلفت أني ما رأيت بعيني مثله ، ولا والله ما رأى هو مثل نفسه.

ژباړه : فرمايي او دغه ابن تيميه رحمه الله ډېر لوی دی ددې نه چې زماغوندې کس دې د هغه د صفاتو څخه خبر ورکړي نو که چېرته زه د رکن او مقام ترمنځه قسم وکړم نو ضرور به دا قسم کوم چې ما په خپلو سترګو د هغه غوندې شخصيت نه دی ليدلی او نه قسم په الله که هغه د خپل ځان غوندې شخصيت ليدلی وي ، (ذيل الطبقات الحنابلة ج٤ ص٥٠٧)

علامه جمال الدين أبو الحجاج المِزّي رحمه الله د ابن تيمية رحمه الله په باره کې فرمايي **ما رأيت مثله ولا رأى هو مثل نفسه ، وما رأيت أحدا أعلم بكتاب الله وسنةِ رسوله ولا أتبع لهما منه ،**

ژباړه : ما دده پشان عالم نه دی ليدلی او نه ده د خپل ځان پشان عالم ليدلی دی او ما د الله په کتاب او د هغه د رسول په سنت ډېر پوهه لرونکی او ددې دواړو زيات اتباع کونکی له ده څخه بل هيڅ څوک نه دی ليدلی . (الشهادة الزكية في ثناء الأئمة في ابن تيمية ص ٤٥)

جمال الدين السرمري فرمايي : " **ومن عجائب زماننا في الحفظ ابن تيمية ، كان يمر بالكتاب مرة مطالعة ، فينقش في ذهنه ، وينقله من مصنفاته بلفظه ومعناه** ".

ژباړه : او زمونږ د زماني د عجايباتو څخه په حفظ کې ابن تيمية وو چې ده به يوځل يو کتاب مطالعه کړ نو د هغې نقش به يې په ذهن کې راغی او بيا به يې خپلو تصانيفو کې په لفظ او معنا دواړو سره نقل کاوه . (البدر الطالع ج١ ج/ ص ٧٠)

قاضي ابن دقيق العيد رحمه الله فرمايي : **لما اجتمعت بابن تيمية رأيت رجلا كلُ العلوم بين عينيه يأخذ ما يريد ويدع ما يريد ، وقلت له : ما كنت أظن أن الله بقي يخلق مثلك .**

ژباړه : زه چې کله د ابن تيمه رحمه الله سره مخامخ شوم نو ما وليده چې دا داسې يو سړی دی چې ګويا ټول علوم يې مخې ته پراته دي بس چې څه يې خوښه شي ترې اخلي يې او چې څه يې خوښه شي پرېږدي يې نو ما ورته وويل زه ګمان نه کوم چې الله له تاته بعد په مخلوق کې بل داسې عالم پيداکړي . (الذيل ج٤ ص٥٠٣ الرد الوافر ص١١١ الشهادة الزكية ص ٢٩)

الشيخ إبراهيم الرَقي : **به د ابن تيمه رحمه الله**

باره کې فرمايل فإن طال عمرُه ملأ الأرضَ علما وهو على الحق ، ولا بد ما يعاديه الناس فإنه وارثُ علمِ النبوة .

ژباړه : که چېرته د ابن تيميه عمر زيات شو نو ځمکه به د علم څخه ډکه کړي او دا په حق ولاړ دی نو خامخا به ورسره خلک (باطل پرست) عداوت کوي بېشکه دا د نبوة د علم وارث دی . (حياة شيخ الإسلام ابن تيمية صـ٢١)

د نحويانو شيخ او سردار شيخ أبو حيان النحوي چې کله د ابن تيمية رحمه الله سره ملاقات وکړ نو ويې فرمايل : **ما رأت عيناي مثله ،**

ژباړه : زما سترګو دده پشان کس نه دی ليدلی! (من أعلام المجددين صـ٢٥)

الشيخ علم الدين البرزالي هم د خپلو شيوخو په معجم کې د هغه بې شميره أوصاف او کمالات ذکر کړي مختصريو څو کرښې د اختصار په توګه ذکر کوم فرمايي : **أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد بن تيمية الحرانيُ الشيخُ تقي الدين أبو العباس الإمام المُجمع على فضله ونبله ودينه ، قرأ القرآن وبرع فيه والعربية والأصول ، ومهر في علم التفسير والحديث ، وكان إماما لا يلحق غباره في كل شيء وبلغ رتبة الاجتهاد ، واجتمعت فيه شروط المجتهدين،**

ژباړه : ابن تيمه هغه شخص دی چې په غوره والي ، زکاوت او دينداری يې اجماع شوې ده ، قران يې لوستی دی او په هغې کې يې ممتازيت حاصل کړی دی او دا ډول په عربيت او اصولو کې مقام حاصل کړي اوپه علم التفسير اوعلم الحديث کې يې مهارت حاصل کړی وو ، او دا يو داسې امام و چې په هر څه کې بې مثاله او د اجتهاد درجې ته رسېدلی وو او په ده کې د مجتهدينو ټول شروط جمع شوي وو . (غاية الأماني ٢/١٩١)

علامه بهاء الدين ابن سوار السبکي په شيخ رحمه الله د اعتراض کونکو متعلق خپل ملګري ته وفرمايل **والله يا فلان ما يبغض ابنَ تيمية إلا جاهل أو صاحب هوى فالجاهل لا يدري ما يقول وصاحب الهوى يصده هواه عن الحق بعد معرفته به ،**

ژباړه : قسم په الله ای فلانيه بغض نه کوي د ابن تيميه سره مګر جاهل او ياهم بدعتي انسان جاهل خو نه پوهيږي چې څه وايي او د بدعاتو خاوند هغه خپل خواهش د حق د منلو څخه بندکړی دی روسته له دې چې څه يې وپېژنده چې دا حق دی . (الرد الوافر لابن ناصر الدين الدمشقي صـ٩٩)

علامه کمال الدين الزَّملکانی رحمه الله يې په حق کې فرمايي: **وقد ألان الله له العلوم كما ألان لداود الحديد ،**

ژباړه : ابن تيمه ته خو الله علوم داسې تابع کړی وو لکه څنګه چې يې داود عليه السلام ته وسپنه تابع يعنې نرمه ګرځولې وه . (غاية الأماني ٢/٢٠٣)

موصوف د شيخ رحمه الله متعلق مزيد فرمايي: **كان إذا سئل عن فن من العلم ظن الرائي والسامع: أنه لا يعرف غير ذاك الفن ، وحكم أن أحدا لا يعرفه مثله ، وكان الفقهاء من سائر الطوائف إذا جالسوه استفادوا منه في مذهبهم أشياء ، ولا يعرف أنه ناظر أحدا فانقطع منه ، ولا تكلم في علم من العلوم ، سواء كان من علوم الشرع أو غيرها ، إلا فاق فيه أهله ، واجتمعت فيه شروط الاجتهاد على وجهها ،**

ژباړه : او وو چې کله به دده نه د کوم علم د فن باره کې تپوس وکړی شو نو د ليدونکي او اورېدونکي به دا يقين راغی چې دا بغير له دې فن نه په بل فن علم نلري او دا فيصله به يې وکړه چې دده پشان بل هيڅوک ددې فن علم نلري او د ټولو طائفو فقهاء به چې کله ده ته کښېناستل نو له ده څخه به يې په خپلو مذاهبو کې زده کړې کولې او داسې قطعا نه ده شوې چې د چاسره مناظره شوې وي او دا دې هغه ته پاتې راغلی وي او نه يې په کوم علم کې بحث کړی برابره ده چې شرعي علوم به وو او که ددې نه علاوه

، مګر دا چې دا به د هغې په اهل باندې غالب ګرځېده او په ده کې په صحیح طریقې سره د اجتهاد جمله شروط جمع شوي وو.
(تاريخ ابن الوردى ج٢ صـ٢٧٧)

دغه ډول د شيخ رحمه الله د كتاب (بيان الدليل) متعلق فرمايي:
من مصنفات سيدنا وشيخنا وقدوتنا الشيخ، السيد، الإمام، العالم، العلامة الأوحد البارع، الحافظ، الزاهد الورع، القدوة الكامل العارف، تقي الدين شيخ الإسلام، مفتي الأنام ، سيد العلماء، قدوة الفضلاء، ناصر السنة، قامع البدعة، حجة الله على العباد، راد أهل الزيغ والعناد، أوحد العلماء العاملين، آخر الأئمة المجتهدين، أبي العباس أحمدَ بن تيمية.
(تاريخ ابن الوردى ج٢ ص٢٧٧ ذيل طبقات الحنابلة ج٤ ص٤٩٨)

هـو دا ابن تيمية وو

نو عزتمندو مسلمانانو وګورئ دا شوه د ٧ اومې او ٨ اتمې صدۍ د اهل علمو هغه تزکیه چې د شيخ الاسلام ابن تيمه رحمه الله باره کې يې کړې ده چې د اختصار په سبب مونږ د مدحې نور کلمات ، د نورو مشايخو نومونه او عبارات ذکر نه کړل ، نو اوس دې مسلمانان د دين مامد صوفي تهمت ته سوچ وکړي چې هغه ورته کوم نسبت کړی او بيا دې د اهل علمو دې مدحو ته فکر وکړي نو ايا هغه څوک چې عقل نلري او يا کمعقله وي هغه داسې کيدی شي چې د اجتهاد رتبې او مقام ته ورسيږي؟

هغه داسې کيدای شي چې محدثين ، مورخين او فقهاء دې د هغه په حق کې وربانديې په حرم کې د الله په ذات قسم کول خوښوي چې مونږ داسې کامل ، پوه او زيرک شخصيت ليدلی نه دی؟

ايا هغه داسې کيدی شي چې د محمد بن أحمد بن عبد الهادي ، د محمد بن أبي بكر ، ابن قيم الجوزية د محمد د بن أحمد بن عثمان الذهبي د محمد بن مفلح د ابن محمد المقدسي د إسماعيل بن عمر بن كثير ، د عمر بن علي البزار ، د أحمد بن حسن بن عبد الله بن قدامه د محمد بن شاكر الكتبي ، د سليمان بن عبد القوي الطوفي الصرصري البغدادي، د عمر بن مظفر الوردي المصري الحلبي ، د عمر بن سعد الله الحراني ، د محمد بن المنجا التنوخي الدمشقي وغيرهم رحمهم الله غونډې شاګردان وروزي؟
(كمافي شيخ الإسلام ابن تيمية وجهوده في الحديث وعلومه صـ١٠١ صـ١٥٩) .

ايا داسې كس كم عقله کيدای شي چې د ملحدانو په نزد د عقل بادشاهان او حکماء په دلايلو سره بې عقله ثابت کړي او لس جلده كتاب په نوم د (درء تعارض العقل والنقل) د هغوی په بطلان او د کمعقلی په ثابتولو باندې وليکي؟

د باطل پرستو د عـداوت سبب

لکه څنګه چې دا خبره په مخکې فُصولو کې بې له شک او تردد څخه ثابته شوه چې شيخ رحمه الله ته رب کريم په څمکه او بيا د مسلمانانو په زړونو کې محبت ، ايماني احترام او مقام ځای کړی دی ، خو دا چې د عصر مشرکين او باطل پرست يې د زعم برداشت نلري ، رالږي په يو نوم او بل نوم د بې علمه مسلمانانو مخې ته د هغه د مقام غورځولو کوشش کوي ، خو بل طرف ته الله رب کريم د خپلو ايمان لرونکو بندګانو د دفاع وعده کړې او فرمايي : **إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ .**

ژباړه : يقينا الله له هغو کسانو څخه دفاع کوي چې ايمان يې راوړی دی دا يقيني ده چې الله هيڅ يو خائن ، او ناشکره نه خوښوي.

امارت پـه ابن تيمية طعن ولي لګوي؟

مسلمانانو واورئ مونږ ستاسو په مخ کې په وطني امارت او د تصوف په جمله اهل شرک دا اواز کوو او دې واوري نن چې د دوی له لوري د ممبرونو په سر شيخ الإسلام رحمه الله ته د کمعقل کوم بې ځايه نسبت چې کيږي

او د عیب او طعن هدف ګرځي نو ددې مرکزي علت دا دی چې هغه پرون ستاسو د همصفته مرتدینو تاتاریانو خلاف په جهاد فتوا ورکړې وه او د مجاهدینو ترمنځ یې اعلان وکړ چې : **"إذا رأيتموني من ذلك الجانب وعلى رأسي مصحف فاقتلوني "** که چېرته تاسو ما د تاتاریانو په طرف ووینئ او په سرمې قران هم ایخي وي نو ما قتل کړئ ،

ستاسو نني تهمتونه د پروني هغه درد لکه کبله وجود ته راغلي چې د شیخ رحمه الله د فتوي په سبب یې ستاسو په زړونو حمله کړې او هغه هاغه فتوا ده چې ستاسو د مقتداګانو او د وحدة الوجود په بدګرده مشرانو حسین بن منصور الحلاج ، محي الدين ابن عربي ، ابوفتوح شهاب الدين السهروردي ، ابن الفارض او ابن سبعين وغیره صوفیانو باندې یې ورکړې وه ، د ملحدانو او زنادقه وو حکم یې ورباندې لګولی وو او د هغوی په کفر ، ضلالت ، حماقت او جهالت یې مسلمان ملت اګاه ګرځولی دی ،

تاسو څکه نن د هغه نوم نشی برداشت کولی چې د هغه د زرینو أقوالو څخه دا قول مشهور دی چې **"العامة يعبدون الله والصوفية يعبدون أنفسهم** ، ژباړه : خلک د الله عبادت کوي خوصوفیان د خپل ځان عبادت کوي .

شیخ رحمه الله څکه ستاسو د تهمتونو او ناحقه بهتانونو هدف ګرځیدلی چې هغه ستاسو په ناسکه ورونو روافضو د تکفیر فتوی ورکړې او د هغوی په بطلان یې د منهاج السنة غوندې لاجواب کتاب لیکلی دی چې ترننه د روافضو زخمونه تازه کوي او مالګې پرې شیندي!! د شیخ نه څکه ډار محسوسوی چې ستاسو د مشرانو منکري الصفاتو معطله او جهمیه وو په رد کې یې الحموية الكبرى ، العقيدة الواسطية او التدمرية کتابونه لیکلي دي!! په اړه یې څکه د دروغو او تهمتونو څخه کاراخلی چې هغه په الفرقان کتاب کې ستاسو او ستاسو همصفته د شیطان دوستان ګرځولي دي ، تاسو ته څکه د هغه مسلّم مقام د منلو وړنه دی چې تاسو او ستاسو دغه جمهوري او وطني امارت د هغه د فتوی له رویه طائفه ممتنعه کې حسابیږي چې په مقابل کې یې په مسلمانانو باندې جهاد فرض عین ګرځیدلی دی.

د دین مامد څپېړه او د امارت مخ

اوس د مسلمانانو مخې ته یو څو شکاره ثبوتونه او دلایل پدې پار عرض کوم چې د امارت وطني د ممبر نه چې د کمعقل کوم نسبت شیخ رحمه الله ته شوی ددې ناکاره صفت لایق خپله ددې امارت مشرتابه او د دین مامد په څېر نور مسؤلین دي او دا داسې دلایل دي چې په خپله خوارکي دین مامد صوفي په خپله خوله باندې ویلي دي چې د عقل والاو په نزد ، نو دا د دین مامد له خوانه امارت ته په مخ د کلکې څپېړې د ورکولو او د امارت د مشرتابه او مسؤلینو څخه د جامو ویستلو مترادف خبري دي چې دغه خبري یې ستاسو مخې ته ږدم ترڅو ددې سره سره د تصوف د عقل نتیجه هم ووینئ چې په ځان یې د بې عقلی سره سره د حماقت او سفاهت څومره بې شمېره دلایل ثابت کړې دي!

د امارت قاضیان!!

صوفي دین مامد وایي : په موجوده نظام کې فارغ لا نه وي او پوښتنه کوي چې چېرته به د قاضیتوب ځای راته پیداشي ، څکه په مدرسه کې تنخوا ، د مفتی توب تنخوا او د قضا تنخواه څومره فرق لري؟

زمونږ تبصره

د دین مامد دا خبره مونږ هم تائیدوو څکه

چې دې باب کې يو مقوله ده چې: صاحب البيت أدرى بما فيه ،، يعنې د کور څښتن ډېر خبر وي په هغه څه چې په کورکې يې دي ، نو دين ماmed صوفي باره کې مجبور يو چې دا ووايو چې ”إن الكذوب قد يصدق “ يقينا درواغجن هم کله کله ريښتيا وايي .

نو لوستونکو کمعقل ځوک شو؟ شيخ الاسلام ابن تيمية چې د امت أهل علمو يې په امامت او علميت اجماع کړې؟ که د امارت مشر تابه چې نا أهله او بې علمه يې د قضاء منصبونو ته ځانونه رسوي او د دنيا د مال او متاع د حصول لپاره کوششونه کوي چې قاضيان شي! سره له دې چې په اسلام کې د عهدې طلب حرام دی او دوی بيا سره د نا أهلۍ دا کړنه ترسره کوي خو د امارت مشران يې مخه نه نيسي ځکه دا زمينه ورته امارت برابره کړې ده .

إمارت کې مسجدونه وتړل شول!

د امارت د کابل د عملاۋ رئيس صوفي دين مامد په خپله خوله وايي : نن د اطرافو مدرسې اکثره خرې شوې ، جماتونه بې امامه شول ، وتړل شول .

زمونږ تبصره

نو لوستونکو کمعقل ځوک شو؟ شيخ الاسلام ابن تيمية چې د امت أهل علمو يې په امامت او علميت اجماع کړې؟ او که د إمارت مشرتابه چې د حاکميت په مناطقو کې يې مدرسې خرې او مساجد وتړل شو؟ نو ايا اسلامي حاکم او اسلامي نظام داسې وي؟ دېته شرعی نظام ويلی شي؟

امارت د رعيت سره خيانت کوي!

د امارت د کابل د عملاۋ رئيس صوفي دين مامد په خپله خوله وايي : حتی يو ځای کې د افسوس ځای دی د چهارشنبې په ورځ مړی شوی وو د جنازې ځوک نه وو بيا وايي هغه کليوالو وويلې سبا ته يې کېږدئ دغه رئيسان صاحبان چې په دفترونو کې کار کوي د جُمعې په شپه کوروته راځي جنازه به مو بيا هغوی وکړي!

زمو نږ تبصره!

نو چې کله د يو اسلامي نظام دعوی کونکی اقتدار او حاکم داسې وي چې رعيت کې يې مړی د جنازې او تدفين د حق څخه داسې محروم پاتې کيږي نو لوستونکو کمعقل ځوک شو؟ شيخ الاسلام ابن تيمية چې د امت أهل علمو يې په امامت او علميت اجماع کړې؟ او که د امارت مشرتابه چې د حاکميت لاندې مناطقو کې يې رعيت د چهارشنبې په ورځ مړ کيږي او د جنازې يې لپاره يې ځوک نه پيداکيږي تردې چې جمعې ته پاتې کيږي!؟ لاحول ولا قوة الا بالله .

هو دا يې د مشرانو عقيده ده!!

د امارت د کابل د عملاۋ رئيس صوفي دين مامد وايی : د دغه ملت په قربانيو مونږ دې حکومت ته را رسېدلي يو ، د دغه عوامو په کومکونو د ولس يوه يوه کس خپل کور د مجاهد په سر باندې قربان کړی!

زمونږ تبصره

مسلمانانو خه وګورئ د امارت د مشرتابه او جنګيالو ټول هدف همدا وه چې حکومت ته ورسي فقط شريعت او د اسلام د حاکميت نيت يې قطعا نه وو نو ځکه خو دين مامد وايي چې مونږ حکومت ته ددې عوامو په قربانيو رسېدلي يو ، د الله مدد او نصرت ته يې اشاره قدر هم ونه کړه ځکه چې دين مامد پدې پوهېږي چې د کرسی او اقتدار لاس ته راوړنې او د وطنيت د نظريې په اشراف کې جنګ نه جهاد دی او نه په دې کې د الله مدد وي بلکې د مهلت به وجه يو چانس وي الله يې ورکوي تر څو حجتونه تمام او اعذار قطع کړي نو بيا يې چې رانيسي نو د هغه رانيول يقينا ډېر سخت وي ،

نو لوستونکو کمعقل ځوک شو؟ شيخ

الاسلام ابن تیمیة چې د امت أهل علمو یې په امامت او علمیت اجماع کړي؟ او که د امارت مشرتابه چې جنګ یې فقط د حکومت لاس ته راوړلو لپاره وو؟

د عوامو سره امارت خیانت کوي!!

د امارت د کابل د عملاؤ رئیس صوفي دین مامد په خپله خوله وایي : مونږ ته شورا ته یو سپین ږیری راغی کوچی و د لوګر ویل یې په تیر رژیم کې به ما مجاهدینو ته پټه شپه ورکوله چا جاسوسي را باندې وکړه په کور مې بمبار وشو نهه نفر مې ځای پرځای شهیدان شول .....

زمونږ تبصره

مسلمانانو وګورئ او واورئ دا هغه عوام دي چې دې وطني طالبانو د شریعت د تنفیذ په نوم د دوی کورونه د خپل وطني جنګ سنګرونه ګرځولي وو هغوی هم پدې امید او طمع دغه هر مصیبت ته غاړه د همدې لپاره ایخي وه چې دوی به د الله شریعت راولي خو نن افغانستان کې د الله د شریعت پرځای د کفارو شریعت حاکم دی او د الله د شریعت مخه نیول کیږي ، بل دا چې دین مامد او ده ته ناست احمقان دومره فکر نه کوي چې أمریکا ستا د رعیت کور کور کې د قتلونو امبار جوړ کړی دی خو نن ورته د امارت مشرک سراج الدین دښمن نه وایي! ملاکبیر مرتد نن د امارت حاکمیت د امریکا دپاره امن تصور کوي! عباس ستانکزی مرتد یې نن ارمان کوي چې کاش امریکا بېرته افغانستان ته راشي! مشهور احمق د زماني امرخان موتاقي پلن ښتی ورته سحر او ماښام همدا شیطاني منتر تکراروي چې مونږ په رسمیت وپیژنئ! هیبتوف بې علمه یې هم په نړیوال قانون ایمان راوړ ،

نو لوستونکو کمعقل څوک شو؟ شیخ الاسلام ابن تیمیة چې د امت أهل علمو یې په امامت او علمیت اجماع کړي؟ او که د امارت مشرتابه چې امریکا ورته رعیت کې کور په کور د ښځو ، ماشومانو او بوډاګانو په شمول ډلې ډلې أفراد په بې رحمی سره قتلول او دا پرځای ددې چې انتقام تري واخلي نن د امریکا سره د دوستی لاسونه ورکوي او واپس یې افغانستان ته د راتللو ارمانونه او عذرونه کوي!؟

د امارت د جنګیالو د غیرت کچه!

د امارت د کابل د عملاؤ رئیس صوفي دین مامد په خپله خوله وایي : حتی مجاهدین ماته غږېدلي وایي د چاپو په وخت کې دننه په کور کې د ښځو په مابین کې یې مونږ ته ځای اچولی چې په ښځو کې ایننه پټ ویده شئ چې داسي خیال څوک ونه کړي چې دلته پردی سړی دی!

زمونږ تبصره

لوستونکو ستاسو به هم به زړه کې دا خبره تاویګي راتاویګي چې دا صوفي دین مامد د امارت سره کومه دشمني لري چې جنګیالي خواران داسې شرموي او د مشرتابه حماقت یې راښکاره کوي؟

نو جواب دا دی چې دا هغه څه دي چې د امارت په صوفیانه منهج او شریعت کې غیرت او بهادري تصورکیږي نو ځکه خو دین مامد خپله تور زني هم په فخر سره بیانوي او وایي: ماته خپله یو کس وویلې په یو وخت کې چې دلته یو څه مشکلات وو ویل زما کورته دننه رازه د ښځو په مابین کې وده کېږه!

الله اکبر دا یې د رئیس عملاء غیرت او بهادري چې د ښځو منځ کې پټیږي او هغه هم نامحرمو سره! خو خیر وحدت الوجود کې هسې هم دغه کارونه پروا نلري ، پرون که د دوی پیر ضامن جلال ابادي رنډیو ته د زنا اجازه ورکوله او ورته ویل یې چې زنا کونکې او چاسره چې کیږي دي کې فرق نشته ، نعوذ

بالله تعالی دا ټول یو الله دی . کمافي تذکرة الرشید صـ

والعیاذ بالله تعالی نقل کفر کفر نباشد نو نن که پیرصوفی دین مامد ځان او جنګیالو ته د نامحرمه ښځو سره دشپې کولو اجازه او فتوی ورکوي نو دا څه نوي خبره نه ده ځکه خو وایو چې کشران یې پدې ټولو کړنو کې د مشرانو پیروي کوي او دا دوی ته جائز دي د دوی د اعتقاد موافق قطعا عیب نه ګڼل کیږي او نه یې په مجلسونو او محفلونو کې په یادونه شرم او عار محسوسوي!!

ها خو بیا دا جدا خبره ده چې د اسلام په شریعت کې دا ډول کړنې او صفات بیا حد درجه بې غیرتي او ناروا بلل کیږي ، د شرک داعي دین مامد خان اوس دومره نه پوهیږي چې څه وایي او ددي نه څه معنا راولاړیږي أفسوس یو طرف دا دعوه کوي چې افغانستان یې په زور او جنګ فتح کړی! خو بل طرف یې بیا د جنګیالو حال دادی چې د جنګ له ډاره د نامحرمه ښځو سره په برستنو کې بیده کیږي!

شیخ الاسلام قتال کونکی مجاهد وو

خو که ددي برعکس تاسو لږ د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله بهادري ، غیرت او ایماني شجاعت ته زیرشی نو موصوف رحمه الله یو د هغو علماؤ څخه وو چې د حق د دفاع او نصرت لپاره یې د قلم سره توره هم استعمال کړې ده ، موصوف هغه عالم وو چې عمل به یې د قول تصدیق کولو د ټول امارت په مشرانو او کشرانو تېرو شوو او پاتې شوو کې به څوک مور راوړی د هغه د غیرت د ۱۰۰ سلمي حصې اندازه هم پیش نه کړی شي اګرچې مسلمان او مرتد هسې هم یوشان نه وي خو علی سبیل المثال یې وایو .

ابن عبدالهادي رحمه الله روایت کوي فرمايي چې ماته د تتار سره د شام د لښکر څخه یو امیرالحرب چې د مضبوط دین او رشتوني لهجې مالک وو وفرمایل چې د تتارسره د جنګ په وخت کې راته ابن تیمیة رحمه الله وفرمایل **یا فلان أوقفني موقف الموت،** ای فلانیه ما د مرګ پرځای کې ودروه! نو هغه فرمایي **فسقته إلى مقابلة العدو وهم منحدرون كالسيل تلوح أسلحتهم من تحت الغبار المنعقد عليهم .**

ژباړه : نو ما روان کړ د دشمن مخې ته مې ودراوه او دښمن داسې راروان وو لکه د سیلاب چې أسلحې یې د هغو ګردونو لاندې چې پر دوی دپاسه وو پرېښدلې نو بیا مې ورته وفرمایل : **يا سيدي هذا موقف الموت ، وهذا العدو قد أقبل تحت هذه الغبرة المنعقدة ، فدونك وما تريد** ؛ ژباړه : ای مشره دا د مرګ ځای دی او دا دی دښمن چې راروان دی ددې دوړو نه لاندې چې پر دوی دپاسه دي ، نو اوس ته او هغه چې ته یې اراده لرې نو فرمايي : **فرفع طرفه إلى السماء ، وأشخص ببصره ، وحرك شفتيه طويلا ، ثم انبعث وأقدم على القتال .....حتى فتح الله ونصر ،**

ژباړه : نوپس هغه خپل مخ اسمان طرف ونیوه او سترګې یې اسمان ته نیولې وې او شونډې یې ډېر وخت خوځولې بیا راوګرځېده او جنګ ته یې مخه کړه تردې جنګ کې لګیاوو چې الله فتح او نصرت راولیږه .

(العقود الدرية صـ۱۷۷)

نوچېرته د ۷ صدی مجدد عالم او مجاهد او چېرته د اوسنی زماني د تصوف مشرکان او وطني حماریان ، هغه به د مرګ ځای په جهاد کې لټولو او دوی د جنګ له ډار څخه د نامحرمه ښځو سره په برستنو کې تر سحره شپې سبا کوي ،

په الله قسم چې تر منځ یې د اُوم اسمان او د لاندې اُومې ځمکې د فاصلې نه زیات فرق موجود دی خو جهال پدې نه پوهیږي .

خو د امارت جنګیالي برسټنو کې پټیږي

الغرض همدا وجه ده چې پدې نامراده امارت کې د اخلاقي فساد کچه د حدنه واوښته ، جنګیالي یې په همدغه ډول ازادانه شپو تېرولو عادت وو چې قاري سعید خوستي عرف قاري بېلچه یې نن دا کانې وکړې!

جنګیالي یې په همداسې شپو کولو عادت وو چې حقبین خان نن یې داسې کانې وکړې!

جنګیالي یې په همدې ډول شپو کولو عادت وو چې د بریښنا رئیس او د قندهار د والي اوخې حاجي امان الله او د فاریاب صلاح الدین او دغه ډول نورو یې هم دې ته ورته کانې وکړې ،

ځکه چې د تصوف دنیا کې دغه ډول کړنې عیب نه ګڼل کیږي ، نو د امارت مشرتابه ته خو دومره لږ په خپلو جنګیالیو زړه سوانده پکار وه چې دې خوارانو له داره پرون د پردو ښځو سره شپې کولې خو نن یې بیا همدا جنګیالي د امریکا او د هغې د جملې متحالفینو ساتونکي او چوکیداران وګرځول!

نو لوستونکو کمعقل څوک شو؟ شیخ الاسلام ابن تیمیة چې د امت أهل علمو یې په امامت ، علمیت ، جهادي کارنامو او حماسو باندې اجماع کړې؟ او که د امارت مشرتابه چې د کفارو له داره یې جنګیالي د نامحرمو ښځو سره بسترو کې پټیږي او بیدیږي او دایې واپس د همدې کفارو په چوکیدارۍ تعینوي؟

نامحرمه ښځې او د امارت جنګیالي

د امارت د کابل د عملاؤ رئیس مرتد صوفي دین مامد په خپله خوله د زابل د یوې چاپې قیصه کوي وایي : عبدالله سرحدي راسره غږیده چې محاصره شو امریکایان راغلل چاپه یې واچوله د وتلو لار نه وه کلیوالو دا قرباني وکړه چې په موټر سایکلو چا خپله ښځه راپسې سپره کړه چاپسې یې لور سپره کړه چاپسې یې خور سپره کړه چې د کلي نه ځان په دغه طریقه وباسو .

زمونږ تبصره

هو دا د نړۍ فاتحین دي!! دا د اقصی ازادونکي دي! دا هغه ځوانان دي چې ټول افغانستان یې د امریکا او د هغې د متحالفینو څخه په زور فتح کړی دی! سبحان الله دشمن ورپسې کورته ورغلی اسلحه ورسره لاس کې اسلحه پټوي او خپله دپردو ښځو سره په موټر سیکلو له صحنې تېښته کوي!! دا یې د ټول غیرت او حیا کچه ده او بیا یې ډوزې ګوري چې ځانونه د نړۍ فاتحین ګڼي لاحول ولاقوة الا بالله .

لوستونکو کشران یې نه ملامتوو مشران او رئیسان یې دي کارته اماده شوي چې د مشکل په وخت کې د پردو ښځو ترمنځه بیده شي نو کشران خو یې خو دا عیب نه ګڼي ددوی پدې ډول کړنو ډېر تفصیل ته ضرورت دی او د شریعت ډېری نصوص ددې په رد کې موجود دي خو د اختصار په بناء یې نه ذکر کوو ځکه دا خو هغه اتفاقي محذورات دي چې هیڅ عقل لرونکی یې منلو او جواز ته تیار نه دی خو امارت دا هرڅه جایز ګڼي نو اوس بیا لوستونکو ته وایو چې کمعقل څوک شو؟ شیخ الاسلام ابن تیمیة چې د امت أهل علمو یې په امامت ، علمیت ، جهادي کارنامو او حماسو باندې اجماع کړې؟ او که د امارت مشرتابه چې د کفارو له داره یې جنګیالي د نامحرمو ښځو په مرسته پرون په موټر سایکلو د قتال له صحنې څخه تختېدل خو نن همغه امریکا دشمنه نه ګڼي بلکې دوسته یې بولي او د دفاع سوګندونه یې پورته کوي؟

امارت کې قاضیان رشوتونه اخلي

د امارت د کابل د عملاؤ رئیس مرتد صوفي

دين مامد په خپله خوله وايي :

دغه ملت مونږ پرېښی د علم يې پروا نلرو د خدمت دعوی ده چې مونږ اَمارت اسلامي ته خدمت کوو د خدمت دعوی نده نيتونه خراب دي روپۍ هلته ډېرې دي يو والی صيب راته ويلي څه علماء راغلل چې دغه امر بالمعروف او نهي عن المنكر کې که مونږ ته وظيفې راکړې ماورته ويل ولې په درس لګيا ياست ، په امامت لګيا ياست د دين خدمت ده ويل هلته خدمت عام دی په ټول ولايت کې به يې کوم داخو په يوه جماعت کې خدمت دی چې کلک دلته مقرر شول څه وخت بعد د قضا پوستونه راغلل نو امر بالمعروف کې خو تنخواوې کمې دي قاضيان صاحبان خو چې دا خلک حلالوي دا خو يولاک شل زره او اتيازره او نوي زره دي دغه ملايان بيا راغلل چې هلته په عهدو کې هم وو چې مونږ قضا ته امتحان ورکوو نو ماورته وويلې چې ولې د امر بالمعروف خدمت خوځام دی په ولايت کې نو اوس بېرته ولې قضا ته راځئ او په يوه کوټه کې کښېنئ ؟

زمونږ تبصره

دلته هم مرتد دين مامد د امارت د نقشې او منهج په خه انداز کې د پېش کولو کوشش کړی بيا مجبور يو د انعام توګه ورته ووايو چې **" إن الكذوب قديصدق "** هو يقينا د امارت جمله مشران او کشران همداسې دي چې دا ښکاره دليل دی په حماقت او ناأهليت د رهبر ددوی ، دا دليل دی پدې چې امارت کې هريو د اوچت منصب او ډېرو پيسو پسې ګرځيږي بس دين مامد يې حقيقي حال بيان کړی ، او دا هم تري څرګنده شوه چې د امارت قاضيان رشوتونه اخلي ځکه خو يې د قاضيانو د تنخواوو او رشوتونو متعلق ښکاره وويل چې : دغه قاضيان صاحبان خو چې دا خلک حلالوي دا خو يولاک شل زره او اتيازره او نوي زره دي ...الخ

نو لوستونکو دا که اوس هرڅه چغې ووهي چې **" د جرحې په شکل يې نه يايم د يقظت په شکل يې يايم "** خو حقيقت همدادی چې څه يې ويلي دي ، صوفي دين مامد د امارت د مشرانو او ددوی د نافذ کړده قانون حقيقت او حيثيت او د رعيت سره په خيانت ښه ليکچر ورکړی چې دا خوارکې خپله هم پدې کې پوره برخه لري خو چې د زانې او د کيشپ تقليد او له هغې سره مشابهت خوښوي هغه خوارکی به څه پوه شي .

دا د هيبة الله حيثيت دی!

د امارت د کابل د عملاؤ رئيس مرتد صوفي دين مامد په خپله خوله وايي :

....شيخ صيب مبارک (هيبتوف) ته مې ويلي چې زه دا د شورى کارونه نشم کولی ځکه د درسونو کې مصروف يم ، راته يې ويل خير يو کال يې پرېږده خو دا کار مه پرېږده ماورته وويل نه يې شم پرېښودی ، ماويل قسم په خدای دی چې ټول اَمارت راکوې که د يوې ورځې يوحديث باندې يې ورکړم ... الخ .

زمو نږ تبصره!

لوستونکو د مرتد دين مامد او هيبة الله دغه مکالمه کې دوه مهمې خبرې نوټ کړئ اول که بالفرض ومو منله چې اسلامي نظام دی مدرسو کې يې هم حق درس کيږي نو سوال دا دی چې هبة الله ولې يو کال دين مامد د درس نه بندوي دين مامد چې مخکې د امارت د راتلو سره د اطرافو د مدرسو د شروالي کوم خبر ورکړ دا اعتراض دلته په هبت الله خان نه راځي؟ نو د دين مامد دلته پدې خبر د ځان صفت مقصود دی که د هبت الله مذمت تپوس تري پکاردی ،

دویمه خبره دا چې ددوی په اصطلاح دا یې أمیر المؤمنین دی نو د یو امیرالمؤمنین دا حیثیت وي چې هغه ورته امر کوي او دا ورته په قسم جواب کوي چې که ټول امارت راکوې زه دا کار نه کوم؟!!

داخو مونږ په قطعي ډول وایو چې نه هبته الله شرعي امیر دی او نه یې طاعت په مسلمان واجب دی، نه دا اونه یې دغه لښکر او مسؤلین مسلمانان دي ځکه دوی طائفه ممتنعة ده چې په مسلمانانو یې پرخلاف جهاد فرض عین ګرځېدلی خو چې دوی بیاهم سربېره پردې داسلام دعوی کوي او هیبتوف ته امیرالمؤمنین وایي!!!

نو د مثال په طور ورته وایم چې د امیرالمؤمنین حیثیت دا وي چې هغه تاته امر کوي او ته ورته قسمونه کوه چې که ټول امارت راکوې زه دا کار نه کوم؟ په شریعت کې د اماما دا حق وي؟ خو دوی ته به زړونو کې شه پته ده چې حق د طاعت قسم بالله که لرې خو بس د مزو او د مال ګټلو وخت دی د شرعي مصطلحاتو نه ګټه پورته کړه او بې علمه مسلمانان دوکه کړه،

نوځکه خو یو اچار جوړ دی د امارت نه، سیکانو ته هم وظیفی ورکول کیږي روافض خو یې بیخي د أدې بچې ګرځېدلي، د قضا او منصبونو پسې یې هر نا أهل لکه د لېونو سپو داسې لېونی ګرځي، ددې امارت په راتلو سره مدرسې شاړې شوې! جماتونه وتړل شو د جنازې ملا نه پیدا کیږي او بیاهم اسلامي نظام لاحول ولاقوة الا بالله تعالی.

د صوفي دین مامد علمي مبلغ!!

په اخر کې د لوستونکو توجه ددین مامد صوفي چې د امارت له لوري د کابل د عملاؤ رئیس دی لږ د هغه علمي مبلغ ته راګرځوو دین مامد په دغه ۷ دقیقوي کلیپ کې چې ما ته رارسېدلی یو څو علمي خطاوې کړې یو دا چې د قران کریم د سورة الحشر د ۹ نمبر ایت حصه یې غلطه لوستې او د انصارو په تائید کې ایت داسې لولي " وَالذين تَبَوُّؤُ الدار " دلته یې د با نه بعد په واو باندې هم ضمه یعنې پېش لوستی او حال دا چې دغه ایت په قرآن کې داسې دی **وَالَّذِينَ تَبَوَّءُو الدَّارَ**

همدارنګه نوموړي دوه ځله د اَمارت کلمه لوستې ده حال دا چې أمارت په زبر د همزې سره دا نښې او علامې ته ویلی شي اقتدار ته چې ویل کیږي نو هغه إمارت دی د همزې په کسرې یعنې زېر سره، نو دا هغه ښکاره غلطیانې او خطاګانې دي چې د دین مامد بې علمي، کمعقلي، جهالت او حماقت په ګوته کوي خو افسوس چې د امارت وطني اخوندان یې شمس المشایخ ګڼي،

بس خلاصه دا چې افسوس د هغه چا په حال چې د یو وړو کې ایت عبارت صحیح لوستلی نشي، د اَمارت او اِمارت ترمنځه فرق نشي کولی او که مطالبه ترې وکړو نو په غیر حانث قسم سره یې وایو چې یو صفحه عبارت د شیخ رحمه الله د الفتاوی الکبری څخه هم نه شي لوستی نو داسې د ګند نه ډک مشرک، د جهل نمونه او مغلظ مرتد راپورته کیږي او د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله مذمت او ګستاخي کوي، شاعر رښتیا ویلي:

وإذا أتتك مذمتي من ناقصٍ
فهي الشّهادة لي بأني كامل

ژباړه: کله چې هم تاته زما بدي د کوم ناقص انسان څخه راورسیږده، نو دا به ګواهي وي زما لپاره پدې چې زه یو کامل شخص یم، وبالله تعالی التوفیق والحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه وسلم.

په خپلو
مالونو سره
جهاد وکړئ

دریمه

مقاله

الحمد لله الذي أمر بالإنفاق في سبيله، و يُضاعف فيه الأجر والثواب لمن يشاء من عباده ، والصلاة والسلام على أجود الناس في خلقه أمابعد.

عزتمندو مسلمانانو!

تیرو برخو کې د جهاد بالمال د اهمیت او فضیلت ترڅنګ د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو د جهاد بالمال نمونې ذکر شوي وې او حکم د جهاد في سبیل الله هم بیان شوی و ، دې برخه کې به په د انفاق في سبیل الله په ادابو او مواضعو خبره کوو او تر څنګ به یې د اسلامي نظام په اقتصادي منابعو او د باطلو تنظیمونو په اقتصادي منابعو هم رڼا اچوو.

د إنفاق في سبیل الله آداب:

دا چې انفاق في سبیل الله یو مهم او له خیرونو څخه ډک عمل دی نو په همدې اساس مؤمن ته پکار دي چې دا عمل د قرآن او سنت موافق اداء کړي ، ترڅو د خپل رب په دربار کې قبول شي او انسان ته د دنیا او اخرت د ثوابونو او بدلي سبب وګرځي ، دا یاد لرل پکار دي چې د صدقې قبلولو او غوره والی د صدقې د حجم او ډیروالي پورې نه دي ، بلکې قبلوالی او غوره والی یې د اخلاص او ادابو پورې تعلق لري ، نو په همدې اساس پدې باب کې په هغه شرطونو او ادابو خبره کوو چې قران او سنت د انفاق في سبیل الله لپاره ذکر کړي ، چې د هغې له جملې څخه:

١ـ أن تكون لوجه الله عز وجل .

صدقه او انفاق في سبیل الله باید د الله عزوجل د رضا په خاطر ورکړل شي ، یعنې مؤمن باید دې عمل کې اخلاص وکړي او خپل نیت صحیح کړي .

الله تعالی فرمایي:

لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا

[سُورَةُ النِّسَاء : 114]

ژباړه: د خلکو په پټو مجلسونو کښې زیاتره څه ښېګڼه نه وي. هو! که څوک په صدقې او خیرات لارښوونه وکړي یا د کوم ښه کار لپاره یا د خلکو په چارو کښې د اصلاح کولو لپاره چا ته څه ووایي، نو البته دا ښه خبره ده، او څوک چې د الله د رضا لټولو په خاطر داسې وکړي، هغه ته به موږ لوی ثواب ور په برخه کړو؛

حدیث کې هم راځي:

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " إِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللَّهِ إِلَّا أُجِرْتَ عَلَيْهَا حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فَمِ امْرَأَتِكَ "

(صحیح البخاري)

ژباړه: د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه خبر ورکوي چې نبي صلی الله علیه وسلم وویل: یقیناً ته نه خرچ کوې یو څیز چې طلب کوې په هغې سره د الله رضا مګر الله به په هغې اجر درکوي تر دې چې ته د خپلې بي بي په خوله کې (کوم طعام) ږدی.

٢ـ ألا تكون من أجل الرياء والسمعة

صدقه او انفاق في سبیل الله به د ریاء ، ځان ښودنې او شهرت له وجې نه ورکول کیږي.

الله تعالی فرمایي:

وَالَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَن يَكُنِ الشَّيْطَانُ لَهُ قَرِينًا فَسَاءَ قَرِينًا

[سُورَةُ النِّسَاء : 38]

ژباړه: او هغه خلک هم د الله نه خوښیږي چې خپل مالونه یوازې خلکو ته د ښودلو لپاره لګوي او په حقیقت کښې نه پر الله ایمان لري نه د اخرت په ورځ. او شیطان چې د چا ملګری شي، نو هغه ډېر بد ملګری دی.

٣ـ أن تكون من كسب طيب.

صدقه او انفاق في سبیل الله باید د حلال ، پاک او کره مال څخه ورکړل شي، حرام او نجس مال صدقه کې ورکول صحي ندي.

الله تعالی فرمایي:

يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا

كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ غَنِىٌّ حَمِيدٌ [سُورَةُ الْبَقَرَة : 267]

ژباړه: اې مؤمنانو! کوم مالونه چې تاسې ګټلي دي او کوم شیان چې موږ ستاسې لپاره له ځمکې څخه رایستلي دي، د هغو ډېره غوره برخه د الله په لار کې ولګوئ. داسې نه چې د هغه په لار کې د ورکړې لپاره د ډېر ناکاره شي د ورکولو کوښښ وکړئ؛ په داسې حال کې چې که هماغه شی ځوك تاسې ته درکړي، نو تاسې به هیڅکله د هغه اخیستلو ته زړه ښه نه کړئ، مګر دا چې د هغه په قبلولو کې له سترګو پټولو څخه کار واخلئ. تاسې باید پوه شئ چې الله بې حاجته او د ډېرو غوره ستاینو والا دی.

همدارنګه بل ایات کې الله تعالی فرمايي:

لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ [سُورَةُ آل عِمرَان : 92]

ژباړه: تاسې نېکۍ ته هیڅکله نشئ رسېدای ترڅو خپل هغه شیان (د الله په لار کښې) ونه لګوئ چې تاسې ته ګران وي؛ او څه شی چې تاسې ولګوئ، الله پرې عالم دی.

۴ـ أن لا تكون بمنٍّ ولا أذى حتى لا يبطل أجرها.

صدقه او انفاق في سبیل الله کې به زیادتی (احسان) یا ورکونکي ته تکلیف ورکول نه وي ترڅو یې اجر باطل نشي.

الله تعالى فرمايي:

الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَآ أَنفَقُوا مَنًّا وَلَآ أَذًى لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ [سُورَةُ الْبَقَرَة : 262]

ژباړه: کوم خلك چې خپل مالونه د الله په لار کې لګوي او د لګښت څخه وروسته پر چا احسان نه کوي او نه ازار ورکوي، د هغو ثواب د هغو د رب سره دی او پر هغو څه وېره، غم او خپګان نشته.

همدارنګه بل ایات کې الله تعالى فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَٰتِكُم بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ كَالَّذِى يُنفِقُ مَالَهُ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا وَاللَّهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكَٰفِرِينَ [سُورَةُ الْبَقَرَة : 264]

ژباړه: اې مؤمنانو! خپلې صدقې په احسان بارولو او ازار رسولو، د هغه چا په څېر مه خاورې کوئ، چې خپل مال محضې خلکو ته د ښودلو لپاره لګوي او نه یې پر الله ایمان وي او نه پر اخرت. د هغه د لګښت مثال داسې دی، لکه یوه ښویه تیږه چې دوړه پرې ناسته وي، کله چې باران پرې وورېږي، ټوله دوړه ترې یوسي او تیږه هماغسې ښویه پاکه پاتې شي. دې خلکو چې په خپل ګومان سره د صدقې کومه نېکي ګټلې ده، له هغې څخه هیڅ شی د هغو لاس ته نه ورځي، او کافرانو ته الله سمه لار نه خايي.

۵ـ أن تُخفى ولا يُجهر بها، إلا أن تكون هناك مصلحة في إظهارها.

باید صدقه او انفاق په پټه طریقه ورکړی شي مګر که کوم مصلحت په ښکاره ورکولو کې وي بیا به مشکل نه وي.

الله تعالى فرمايي:

إِن تُبْدُوا الصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ [سُورَةُ الْبَقَرَة : 271]

ژباړه: که خپل صدقات په ښکاره توګه ورکړئ نو دا هم ښه ده، او که په پټه یې اړو کسانو ته ورکړئ، نو دا ستاسې له پاره ډېره غوره ده؛ ستاسې ډېر ګناهونه په دغه شان عمل سره له منځه ځي. او هر څه چې تاسې کړي وي، الله هرومرو پرې خبر دی.

نو دا هغه اداب دي چې باید هر مؤمن یې لحاظ وساتي ترڅو مالي جهاد او انفاق في سبیل الله یې د الله عزوجل په دربار کې قبول شي ، او د اجر څخه

محروم نشي.

ابواب الإنفاق في سبيل الله:

يقيناً اسلام يواځني هغه دين دی چې خپل پيروان يې د تل لپاره اجتماعي او فردي همکاريو ته هڅولي دي او د يو بل سره شپګني او محبت ته يې ترغيبات ورکړي دي ، د يتيم لاس نيول، د محتاج سره کومک او هغه ته مال ورکول، صله رحمي کول، د مريض عيادت او تنګ لاسي ته مهلت ورکول او يا يې بيخي ورته بخښل، د ظالم او مظلوم لاس نيول، په نيکيو امر کول او د بديو نه خلک منع کول، د يو بل سره کومک او په هغه کې تيزي ورکول ، بلکې هر هغه څه ته چې انسان په خپل ژوند کې ضرورت لري او شرعاً، فطرتاً او عقلاً د انسان په ګټه وي په هغه باندې يې امر کړی او د هر هغه څه نه چې شرعاً، فطرتاً او عقلاً د انسان په ضرر وي منع يې فرمايلې ده ، په همدې وجه الله عزوجل د مؤمن د انفاق لپاره هم مختلفي دروازي ، لاري او بخشونه ښودلي ترڅو د مسلمانانو په هر حالت کې لاسنوی وشي ، مخکې له دې چې د انفاق مختلفي لاري او بخشونه ذکر کړو بايد په ياد ولرو چې په يو بخش کې د مسلمانانو انفاق منحصر کول يا د خپلي فائدي له وجې عامو مسلمانانو ته يو مشخص بخش په ګوته کول او په نورو بخشونو د دين کې يې د انفاق څخه منع کول او بندول ظلم او ناروا ده ، له همدې وجې قران او سنت کې د انفاق لپاره مختلف بخشونه مشخص شوی ترڅو د ټولو مسلمانانو اجتماعي او انفرادي ضرورتونه حل شي چې د هغې له جملي څخه:

١ـ الجهادُ في سبيل الله.

د انفاق لپاره يوه ستره او اهمه لار هغه جهاد في سبيل الله ده، چې پورته کتاب کې ځای په ځای په هغه خبره وشوه چې جهاد يوه اجتماعي فريضه ده او د ټولو مسلمانانو مصالح ورسره تړلي او په همدې سره د دين ، نفسونو، عزتونو ، مالونو او د مسلمانانو د خاورې حفاظت تړلی دی، نو ځکه دې بخش کې خپل مال لګول ترټولو اهم او افضل دي ، چې دلايل يې پورته ذکر شو چې بيا يې اعاده نکوو.

٢ـ الدعوةُ إلى الله تعالى:

دويمه لار او بخش د انفاق لپاره د دعوت لار او بخش دی چې انسان خپل مال د دين په دعوت کې استعمال کړي ، که هغه د حق پرسته داعيانو او علماؤ په تايد او ملاتړ کې وي ، که هغه د اسلامي کتابونو ، مجلو وغيره په چاپ او نشر کې وي ، او که هغه نور دنيوی اسباب برابرول وي ترڅو د الله دين ترخلکو ورسيږي.

خديجه رضي الله عنها هغه زنانه وه چې خپل مال يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د اسلامي دعوت په خدمت کې تر ټولو مخکې استعمال کړ.

همدارنګه د ابوبکر صديق رضي الله عنه واقعات ذکر شول چې ابتداء د اسلام کې چې مکه کې رسول الله صلى الله عليه وسلم دعوت کاوه ، خلک يې د الله توحيد ته رابلل او د شرک څخه يې منعه کول ، ابوبکر صديق رضي الله عنه يې په خدمت کې خپل مال لګاوه.

٣ـ كفالة المُهاجرين:

دريم د هغه لارو څخه چې بايد مؤمن پکې انفاق او خرچ وکړي هغه د مهاجرينو کفالت دی ، هغه څوک چې د الله عزوجل لپاره يې خپل کور کلی او وطن پريښی وي او مهاجر شوی وي ، يقيناً چې دا د انفاق او خرچ لايق دي.

الله تعالى د هغه انصارو توصيف کړی چې مهاجرو صحابه کرامو ته يې د ځای ،خوراک او نورو اسبابو انتظام کړی و ، الله عزوجل يې په اړه وايي:

وَالَّذِينَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْإِيمَٰنَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِى صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ

[سُورَةُ الحَشر : 9]

ژباړه: (او دا مالونه د هغو خلکو (انصارو) لپاره هم دي) چې د دغو مهاجرینو له راتګ څخه مخکې يې ایمان راوړی، په دې کور (مدینه منوره) کښې استوګن ول. دوی له هغو خلکو سره مینه کوي چې دوی ته یې هجرت کړی دی؛ او هر څه چې هغو ته ورکړل شي، د هغو څه اړتیا قدري هم دوی پخپلو زړونو کښې نه احساسوي؛ او پر خپل ځان باندې نورو ته ترجیح ورکوي که څه هم پخپله محتاج وي. حقیقت دا دی، کوم خلك چې د خپل نفس د بخل(یاحرص) څخه وژغورل شول، همغوی بري موندونکې دي.

همدارنګه فرمایي:

وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَٰهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ ءَاوَوا وَّنَصَرُوٓا أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ [سُورَةُ الأنفَال : 74]

ژباړه: کومو خلکو چې ایمان راوړ، او د الله په لار کښې يې هجرت وکړ او جهاد يې وکړ. او کومو خلکو چې پناه ورکړه او مرسته يې وکړه، هماغوی رښتیني مؤمنان دي. د هغو لپاره د ګناهونو بښنه او ډېره ښه روزي ده.

۴ـ فكاك الأسير:

د زندانیانو خلاصول

بل بخش او لاره د انفاق في سبيل الله څخه د زندانیانو خلاصول دي چې مؤمن خپل مال د زندانیانو په خدمت او خلاصون کې ولږوي ، د اسیر آزادول په مؤمنانو واجب دي ، ځکه د قتال او جهاد يو حکمت او د فرضیت وجه الله عزوجل د مستضعفینو او اسیرانو خلاصول بیان کړي دي ، نو کله چې د اسیرانو خلاصول په جهاد بالنفس سره واجب دي نو په جهاد بالمال سره خو په طریق اولی فرض دي

الله تعالى فرمايي:

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَٰنِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا [سورة النساء:75]

ژباړه: او څه شوي په تاسو باندې، چې جنګ نه کوئ د الله په لاره کې (د دین د ترقۍ لپاره) او په (خلاصولو) د ضعیفانو کې چې سړي، ښځې او هلکان دي هغه کسان چې دوی وایي: "اې زمونږ ربه ! وباسه موږ د دې کلي (مکې) څخه چې د هغې اوسیدونکي ظالمان دي او وګرځوه زمونږ لپاره د خپل طرف نه ولي (ساتونکې، دوست) او وګرځوه زمونږ لپاره د خپل طرف نه مدد ګار .

ابن العربي رحمه الله د دې آیت په اړه فرمایي: " قَالَ عُلَمَاؤُنَا: أَوْجَبَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ فِي هَذِهِ الْآيَةِ الْقِتَالَ؛ لِاسْتِنْقَاذِ الْأَسْرَى مِنْ يَدِ الْعَدُوِّ مَعَ مَا فِي الْقِتَالِ مِنْ تَلَفِ النَّفْسِ، فَكَانَ بَذْلُ الْمَالِ فِي فِدَائِهِمْ أَوْجَبَ، لِكَوْنِهِ دُونَ النَّفْسِ وَأَهْوَنَ مِنْهَا"(أحكام القرآن 1 / 583)

ژباړه: زمونږ علماء وایي: الله سبحانه و تعالی په دې آیت کې قتال د بندیانو د آزادولو لپاره د دښمن څخه واجب کړی دی، سره د دینه چې په قتال کې ضیاع د نفس شته، نو د مال مصرفول د دوی په خلاصون کې ډېر واجب دي ځکه چې په دې کې د نفس ضیاع نشته او دا د هغه څخه آسانه ده.

همدارنګه امام قرطبي رحمه الله فرمایلي: "قَوْلُهُ تَعَالَى: (وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ) حَضٌّ عَلَى الْجِهَادِ. وَهُوَ يَتَضَمَّنُ تَخْلِيصَ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنْ أَيْدِي الْكَفَرَةِ الْمُشْرِكِينَ الَّذِينَ يَسُومُونَهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ، وَيَفْتِنُونَهُمْ عَنِ الدِّينِ، فَأَوْجَبَ تَعَالَى الْجِهَادَ لِإِعْلَاءِ كَلِمَتِهِ وَإِظْهَارِ دِينِهِ وَاسْتِنْقَاذِ الْمُؤْمِنِينَ الضُّعَفَاءِ مِنْ عِبَادِهِ، وَإِنْ كَانَ فِي ذَلِكَ تَلَفُ النُّفُوسِ. وَتَخْلِيصُ الْأُسَارَى وَاجِبٌ عَلَى جَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ إِمَّا بِالْقِتَالِ وَإِمَّا بِالْأَمْوَالِ، وَذَلِكَ أَوْجَبُ لِكَوْنِهَا دُونَ النُّفُوسِ إِذْ هِيَ أَهْوَنُ مِنْهَا. قَالَ مَالِكٌ: وَاجِبٌ عَلَى النَّاسِ أَنْ يَفْدُوا الْأُسَارَى بِجَمِيعِ أَمْوَالِهِمْ. وَهَذَا لَا خِلَافَ فِيهِ". (تفسیر القرطبي)

ژباړه: دا تیزي ورکول دي په جهاد باندې او دا آیت د مشرکانو د لاس څخه د ضعیفانو آزادولو ته هم شاملېږي، هغه مشرکان چې دوی ته بد عذابونه رسوي او د دین څخه یې اړوي؛ نو الله سبحانه وتعالی د خپلې کلمې د پورته کولو لپاره او د دین د راښکاره کولو لپاره او د ضعیفه مؤمنانو د راخلاصولو لپاره جهاد فرض کړی دی، که څه هم په دې کې د نفسونو تلف پروت دی.

او د بندیانو آزادول د مسلمانانو په جماعت باندې د جنګ په ذریعه او یا د مال په ذریعه فرض دی، او د مال په واسطه ډېر زیات فرض دی ځکه چې په دې کې تلف د نفسونو نشته او د هغه څخه آسانه دی.

امام مالک رحمه الله فرمایلي: "په خلکو باندې واجبه ده چې په خپل ټول مال باندې د بندیانو فدیه ورکړي".

او په دې کې هیڅ خلاف نشته.

همدارنګه امام شوکاني رحمه الله ویلي : **"والمستضعفين مجرور عطفاً على الاسم الشريف، أي ما لكم لا تقاتلون في سبيل الله وسبيل المستضعفين حتى تخلصوهم من الأسر وتريحوهم مما هم فيه من الجهد...** (فتح القدير:1/562)

ژباړه: او (المستضعفين) دا مجرور دی د وجه د عطف څخه په اسم شریف باندې یعني څه شوي دي په تاسې باندې چې د الله په لاره کې او د کمزوري کړای شوو په لاره کې جهاد نه کوئ تر دې چې هغوی د بند څخه راخلاص کړئ او د هغه تکالیفو څخه چې هغوی په کې واقع دي (ګالي یې) آرامتیا ورکړئ.

همدارنګه امام قرطبي رحمه الله د (سورة البقره 85)نمبر ایات په تفسیر کې هم فرمایي:

قَالَ عُلَمَاؤُنَا: فِدَاءُ الْأُسَارَى وَاجِبٌ وَإِنْ لَمْ يَبْقَ دِرْهَمٌ وَاحِدٌ". (تفسير قرطبي:2/22)

ژباړه: زمونږ علماء فرمايي: د بندیانو فدیه ورکول فرض دي که څه هم یو درهم پاته نه شي.

د رسول الله صلی الله علیه په سنتو کې هم د بندیانو په خلاصولو امر راغلی او هغه عام دی که به جهاد بالنفس سره وي او که په جهاد بالمال سره وي ، امام المحدثين محمد بن اسماعيل البخاري رحمه الله د دې موضوع د اهمیت د وجې باب ایښې دی چې **(بَابُ فَكَاكِ الأَسِيرِ)**

باب دی به بیان د خلاصولو د بندي کې.

او بیا یې حدیث نقل کړی:

عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فُكُّوا العَانِيَ، يَعْنِي: الأَسِيرَ، وَأَطْعِمُوا الجَائِعَ، وَعُودُوا المَرِيضَ" (صحيح البخاري)

ژباړه: د ابو موسى الأشعري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "بندي خلاص کړئ او وږي ته ډوډۍ ورکړئ او د مریض پوښتنه وکړئ".

نو په پورته حدیث کې رسول الله د بندي په آزادولو باندې امر کړی، او د نبي علیه السلام امر د وجوب لپاره وي چې کله بل طرف قرینه نه وي موجوده، معنی دا چې دا فرض دی په مسلمانانو باندې چې خپل بندیان آزاد کړي که هغه د جنګ په ذریعه وي او که د فديې او مال په ذریعه او که د تبادلې په واسطه، او که مسلمانانو یو طاقت هم نه درلوده بیا به دعاګانې کوي.

همدارنګه بل روایت کې نقل دي:

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قُلْتُ لِعَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ مِنَ الوَحْيِ إِلَّا مَا فِي كِتَابِ اللَّهِ؟ قَالَ: "لاَ وَالَّذِي فَلَقَ الحَبَّةَ، وَبَرَأَ النَّسَمَةَ، مَا أَعْلَمُهُ إِلَّا فَهْمًا يُعْطِيهِ اللَّهُ رَجُلًا فِي القُرْآنِ، وَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ»، قُلْتُ: وَمَا فِي الصَّحِيفَةِ؟ قَالَ: «العَقْلُ، وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَأَنْ لاَ يُقْتَلَ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ". (صحيح البخاري)

ژباړه: د ابو جحیفه رضي الله عنه څخه روایت دی چې ما علي رضي الله عنه ته وویل، آیا ستاسو سره سپوا د

هغه څخه چې د الله تعالی په کتاب کې دي، د وحي څخه څه شته؟ هغه وفرمایل: نه، قسم په هغه الله باندې چې دانه یې چولې ده او مخلوقات یې پیدا کړي دي مګر هغه پوهه چې الله تعالی چا ته په قرآن کې ورکړې وي او سیوا د هغه څخه چې په دې پاڼه کې دي. ما وویل: په دې کې څه دي؟ ویې فرمایل: د دیت بیان، او د بندي آزادول، او دا چې مسلمان به د کافر په بدل کې نه وژل کیږي.

ابن حجر رحمه الله فرمایي: والمعنى أن فيها حكم تخليص الأسير من يد العدو والترغيب في ذلك.(فتح الباري:1/205)

ژباړه: او د دې معنی دا ده چې په دې کې د بندي د آزادولو حکم دی د دښمن څخه او په دې باندې ترغیب ورکول دي.

شیخ الإسلام ابن تیمیة رحمه الله هم فرمایلي: " أَنَّ فِكَاكَ الْأَسَارَى مِنْ أَعْظَمِ الْوَاجِبَاتِ وَبَذْلَ الْمَالِ الْمَوْقُوفِ وَغَيْرِهِ فِي ذَلِكَ مِنْ أَعْظَمِ الْقُرُبَاتِ"مجموع الفتاوى :28/642)

ژباړه: یقیناً د بندیانو خلاصول یو له لویو فریضو څخه دی، او د پیسو وغیره مصرفول پدی کې چې وقف شوي وي(الله ته د نژدیکت) د لویو وسیلو څخه دي.

٥ـ بناءُ المساجد والمدارسِ.

د مساجدو او مدارسو جوړول،

مساجد د مسلمانانو دیني، تربیتي، عسکري مراکز او عبادت خانې دي، او جوړولو ته یې الله عزوجل ترغیبات ورکړي او دا یې د مؤمنانو صفت او عمل ذکر کړی.

الله تعالی فرمایي:

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ ءَامَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَوٰةَ وَءَاتَى الزَّكَوٰةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَىٰٓ أُولَٰٓئِكَ أَن يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ [سُورَةُ التَّوبَة : 18]

ژباړه: د الله د مسجدونو ابادونکي خو هماغه خلک کیدای شي چې په الله او د اخرت په ورځ ایمان لري، او لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي او له الله پرته له بل هیچا څخه نه ویریږي. له هماغوی څخه دا توقع ده، چې په سمه لاره به لاړ شي.

نو پورته ایات کې د مسجد ابادول د مؤمنانو صفت ذکر شوی او هغه ابادول عام دي که په بدن سره وي او یا هم په مال سره ابادول وي.

همدارنګه حدیث کې هم راغلي چې د بني نجارو څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی قیمتي باغ د مسجد لپاره طلب کړ چې خرڅ یې کړي خو هغوی خپل باغ خرڅ نه بلکې د الله عزوجل د رضا په خاطر صدقه کړ!

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : " أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ ، فَقَالَ : يَا بَنِي النَّجَّارِ ثَامِنُونِي بِحَائِطِكُمْ هَذَا ، قَالُوا : لَا ، وَاللَّهِ لَا نَطْلُبُ ثَمَنَهُ إِلَّا إِلَى اللَّهِ" (صحیح البخاري)

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسجد د جوړولو امر وکړ او ویې فرمایل: ای بني نجار ستاسې دا باغ په پیسو ماته راکړئ ، هغوی وویل: نه، په الله قسم، موږ د دې قیمت نه غواړو مګر الله ته وقف دی.

همدارنګه دیني او شرعي مدارس هم د اسلامي تعلیماتو مراکز دي چې جوړول او پکې خپل مال مصرفول انسان ته لوي خیرونه نصیب کوي.

٦ـ كفالةُ الأيتامُ والأرامل:

د یتیمانو او کونډو کفالت کول ،

کونډو او یتیمانو باندی خپل مال خرچ کول ، د هغوی پالنه کول ، یقیناً یو بهترین عمل دی چې قران او سنت یې لوي شان بیان کړی او سبب د جنت یې ګرځولی.

حدیث کې راځی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " كَافِلُ الْيَتِيمِ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ أَنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ فِي الْجَنَّةِ " ، وَأَشَارَ مَالِكٌ بِالسَّبَّابَةِ وَ ا لْوُ سْطَى . (صحیح مسلم)

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله

صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د يتيم پالنه كونكى (دا يتيم) كه د هغه (قريب)وي او كه د بل چا وي، زه او هغه به په جنت كې د دې دوه گوتو پشان يو ، او امام مالك په خپله شهادت او منځنۍ گوتو اشاره وكړه.

٧ـ إطعامُ الطعام للمساكين:

فقيرانو او مسكينانو باندې خرڅ كول هم د انفاق له بخشونو او لارو څخه دي چې قران او سنت بار بار ورته ترغيبات وركړي.

الله تعالى فرمايي:

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا (8) إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا [سُورَةَ ٱلدَّهر: 9]

ژباړه: او (دا مؤمنان) د الله په مينه كښې مسكين، يتيم او بندي ته خواړه وركوي (او هغو ته وايي چې) مونږ تاسې ته يوازې د الله په خاطر خواړه دركوو،مونږ ستاسې څخه نه څه بدله غواړو، نه منته؛

همدارنگه فرمايي:

يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ [سُورَةُ البَقَرَة : 215]

ژباړه: خلك ستا څخه پوښتنه كوي: "مونږ څه مصرف كړو؟" - ځواب وركړه: "كوم مال چې تاسې لگوئ، پر خپل مور او پلار، خپلوانو، يتيمانو، مسكينانو او مسافرو باندې يې ولگوئ او تاسې چې هره ښېگڼه كوئ، الله پرې خبريږي."

٨ـ إفطار الصائمين:

روژه دارو ته(افطار) روژه ماتي وركول هم د انفاق له لارو او بخشونو څخه يو بخش دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ترغيبات وركړي.

عن زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِ الصَّائِمِ شَيْئًا " (جامع الترمذي: رقم 734)

ژباړه: له زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوك چې روژه دار ته روژه ماتي وركړي، ده لپاره به هم د هغه په شان ثواب وي، خو د روژه دار له اجر څخه به څه كم نشي .

فائده: پورته هغه لارې دي چې مؤمن انسان كولى شي چې پدې بخشونو كې خپل مال ولږوي خو هيره دې نه وي چې دين اسلام كې د اعمالو مراتب معلوم دى چې بعضي وخت به اهم په غير اهم ، اجتماعي په انفرادي ، او داسې نورو مقدم كولى شي ، چې د دې قاعدې لپاره شريعت كې ډير مثالونه او دلايل شته.

يو د هغې څخه دا چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم معاذ رضي الله عنه يمن ته ليږي نو ورته وايي: **إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا اللَّهَ تَعَالَى فَإِذَا عَرَفُوا ذَلِكَ ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِهِمْ وَ لَيْلَتِهِمْ** . . . . . (صحيح البخاري)

ژباړه: ته د اهل كتابو څخه يو قوم ته ځې ، نو لومړى هغه چې تاسې دعوت كوئ دوى دا دى چې دوى د الله توحيد ومني ، كه دوى پدې پوه شي، نو بيا دوى خبر كړه چې په دوى الله تعالى په شپه او ورځ كې پنځه لمونځونه فرض كړي دي...

نو دا حديث دليل دى چې توحيد مقدم دى په نورو اعمالو ...

نو همدارنگه په صدقاتو او انفاق في سبيل الله كې به هم أهم او ضروري په نورو مخكې كولاي شي ، د مثال په ډول كفار يوه اسلامي خاوره اشغال كړي او په مسلمانانو ظلمونه كوي نو په داسې وخت كې پكار دا ده چې مؤمنان خپل صدقات او مالونه په قتال او جهاد او د دشمنانو په په دفع كولو كې ولگوي ، نه دا چې پداسې وخت كې انسان خپل مال په حج او عمره ، او نور مروجه خيراتونو

باندي ولګوی ،ځکه چې دښمن يې په سر ولاړ دی د ده دين او عزت برابرادوي، نو پده اول لازم او ضروري دا ده چې دغه دښمن د ځان څخه دفعه کړي بيا نورو صدقاتو کې مال مصرف کړي.

د اسلامي نظام د اقتصاد منابع:

دا چې مخکې هم اشاره وشوه چې اقتصاد د مسلمانانو په دولت کې او د کفارو سره په جهادونو او مبارزو کې ډير لوړ حيثيت لري او اقتصاد ته (عصب الحياة وقوامها) د زندګی عصب او د ژوند لپاره ستن او اساسي سبب ويل کيږي ، ځکه چې د رعيت حقوق ، د اسلامي نظام د ساتني او د دښمنانو پر وړاندې د جهاد لپاره اسباب او وسائل برابرول، اسلحې او تجهيزات امده کول، د اسلامي فوج او لښکر روزل او ساتل دا ټول اقتصاد ته ضرورت لري، نو په همدې اساس مجاهدين به د خپل نظام اقتصاد قوي کوي ، هغه منابع به پکار اچوي چې له کومو څخه د اسلامي نظام اقتصاد پياوړی کيږي.

که د رسول الله صلی الله عليه وسلم نبوي دولت او د هغه بناء انسان مطالعه کړي مالي او اقتصادي بخش ته رسول الله صلی الله عليه وسلم پوره توجو کوله، حتی د مدينی څخه مخکې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته داسی قضيې مخ ته راغلې چې بايد رسول الله صلی الله عليه وسلم يو اقتصادي نظام او اداره ولري مکه که به بعضی غلامان وو، چې ايمان به يې راوړلو نو کفارو به وربانديی ظلمونه کول، هغوی ته به يې تعذيب او شکنجه ورکوله، رسول الله صلی الله عليه وسلم به دا خوښه ګڼله چې دا غلامان د پيسو مقابل کې واخلي او ازاد يې کړي، لکه د بلال رضی الله عنه واقعه راغله چې د مشرکانو تعذيبونو کې يې ورځی شپې تيرولې د تاريخ او سيرت کتابونو ليکلی:

قال عطاء الخراساني: **"كنت عند ابن المسيب فذكر بلالا، فقال: كان شحيحا على دينه، وكان يعذب في الله، فلقي النبي -صلى الله عليه وسلم-، فقال: لو كان عندنا شيء، ابتعنا بلالا، فلقي أبو بكر العباس، فقال اشتر لي بلالا، فاشتراه العباس، وبعث به إلى أبي بكر، فأعتقه"** [سير أعلام النبلاء جـ 3/213 صـ / ومعرفة الصحابة]

ژباړه: عطاء خراساني وايې زه د ابن المسيب سره وم چې بلال رضي الله عنه يې ذکر وکړ نو ويې ويل: هغه ډير په دين حريص و او د الله په خاطر ډير تعذيب کړای شو ، نبي صلى الله عليه وسلم ورسره مخامخ شو هغه وويل: کاش مونږ سره څه شی وای چې بلال مو اخيستی وای ، پس ابوبکر د عباس رضي الله عنه سره مخامخ شو نو (ورته) ويې ويل: بلال ما لپاره واخله ، عباس رضي الله عنه هغه واخيسته او ابو بکر صديق رضي الله عنه ته يې وليږه پس هغه ازاد کړ.

نو دې روايت نه معلوميږي چې حتی مکه کې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته داسې قضيې مخته راغلې وې چې هلته بايد قوي اقتصاد ولري، بل دا چې اسلامي نظام ته بنديان، کونډی او يتيمان ورپه غاړه وي دا اقتصاد غواړي، د دښمنانو سره دښمني او جنګونه اقتصاد غواړي ، نو په همدې اساس چې کله مدينې ته رسول الله صلی الله عليه وسلم هجرت وکړ بيا يې د خپل اقتصاد لپاره بنيادونه کيښودل، مختلف واردات به نظام ته راتلل او هر يو لپاره يې منظمه اداره او تشکيل برابر کړ چې د هغی له جملی نه:

۱ـ غنائم: د کفارو څخه په زور او جنګ سره مالونه اخيستل ، لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې اراده کړې وه چې د ابو سفيان قافله ووهي او خپل اقتصاد وربانديې جوړ کړي او د دښمن اقتصاد ته ګوزار ورکړي ، هماغه و چې قافله بچ شوه خو الله عزوجل

په بدر کې د جنګ څخه وروسته صحابه کرامو ته غنیمتونه ورکړل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې غنائمو د ساتلو او تقسیم لپاره منظم تشکل جوړ کړ نبي صلّی الله علیه وسلم "عبد الله بن کعب" د غنیمتونو مسئول مقرر کړ مخکې د تقسیم څخه او په بندیانو یې "شقران" د رسول الله صلی الله غلام(مسول) مقرر کړ او په خمس د مسلمانانو یې "محمیةَ بن جزء الزبیديّ " مقرر کړ ، دا درې هغه کسان وو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مالي اداره کې اول ځل لپاره مقرر کړل .

نو له دې لارې به هم د عامو مسلمانانو اقتصاد قوي کیده ځکه چې په غنیمت کې د مجاهدینو لپاره ځانګړې حصې وې ، او هم به د نظام اقتصاد قوي کیده او بیت المال ته به مال جمعه کیده ځکه چې غنیمت کې خُمس ـ یعنې پنځمه حصه ـ د بیت المال وي. نو د غنیمت اموال یو له هغه مالي منابعو څخه دي چې په اسلام کې تر ټولو پاک مال ګڼل کیږي ،

الله تعالی فرمايي:

وَاعْلَمُوٓا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ [سُورَةُ الأنفَال : 41]

ژباړه: او تاسې ته دې معلومه وي چې د غنیمت څه مال چې تاسې په لاس راوړی دی، د هغه پنځمه برخه د الله، د هغه د پیغمبر، د خپلو خپلوانو، د یتیمانو، د مسکینانو او د مسافرانو لپاره ده. که تاسې پر الله او پر هغه شي ایمان راوړی وي چې د فیصلې په ورځ (یعنې د دواړو لښکرو د مخامخ کېدو په ورځ) موږ پر خپل بنده نازل کړی وو (نو دا برخه په خوښی سره ادا کړئ). الله په هر څه قادر دی.

حدیث کې چې هم راځي چې د مسلمانانو رزق الله تعالی په جهادونو او غنیمتونو کې ایښی دی:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " بُعِثْتُ بِالسَّيْفِ حَتَّى يُعْبَدَ اللَّهُ لَا شَرِيكَ لَهُ ، وَجُعِلَ رِزْقِي تَحْتَ ظِلِّ رُمْحِي ، وَجُعِلَ الذِّلَّةُ وَالصَّغَارُ عَلَى مَنْ خَالَفَ أَمْرِي ... " (مسندأحمد: رقم 4969)

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه په توري سره رالیږل شوی یم تر څو د الله تعالی عبادت وشي چې هیڅ شریک نه لري ، او زما رزق زما د نیزې تر سیوري لاندې کېښودل شي. او ذلت او سپکوالی پر هغه چا ګرځول شوی دی چې زما له امر څخه سرغړونه وکړي.

٢ـ زکاتونه :

د زکات د اموالو لپاره هم په نبوي دولت کې همداسې منظم تشکیل او اداره وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم دې باب کې هم مؤمنانو ته احکام ، اصول او ضوابط بیان کړل چې د سرو زرو ، سپین زر ، درهم یا دینار څخه به خپل معلوم مقدار زکات اخیستل کیږي او د حیواناتو څخه خپل مقدار او د فصلونو څخه به هم د شریعت د قوانینو مطابق ځانګړې حصې اخیستل کیږي، د دې د راټولولو لپاره به یې خپل عُمال او کار کونکې مقررول، د تقسیم لپاره یې هم ځانګړې اصول بیان کړل ، د مستحقینو او په صحي طریقه حقدارو ته رسولو لپاره یې هم خلک مقررول.

نو د اسلامي نظام لپاره د مالي منابعو څخه د زکاتونو راټول او بیرته په مستحقینو تقسمول هم یوه لویه منبع ده چې قرآن کریم کې الله عزوجل د دې خبرو ذکر کړی:

الله تعالی فرمايي:

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ [سُورَةُ التَّوْبَة : 103]

ژباړه: [اې پیغمبره] ته د هغوی له مالونو څخه د صدقې (زکات) په اخیستلو سره هغوی پاک

کړې او (د نېکۍ په لاره کښې) هغوی وهڅوه. او د هغو په حق کښې د رحمت دُعا وکړه، ځکه چې ستا دُعا به د هغو لپاره د ډاډينې وسيله وي. الله هر څه اوري او په هر څه پوهيږي.

همدارنګه د مصارفو باره کې يې فرمايې:

إِنَّمَا الصَّدَقَـٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسَـٰكِينِ وَالْعَـٰمِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَـٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ

[سُورَةُ التّوبَة : 60]

ژباړه: دا صدقې(زکاتونه) خو په اصل کښې د فقيرانو او مسکينانو لپاره دي، او د هغو خلکو لپاره دي چې د صدقو د چارو ماموريـن وي، او د هغو لپاره چې زړونه يې په لاس راوړل مقصد وي. دغه راز دا د غاړو(غلامانو) د ازادولو او د پوروړو د مرستې لپاره د الله په لار کښې او په مسافر پالنه کښې د استعمالولو لپاره دي. د الله له لوري يوه فريضه ده؛ او الله په هر څه پوهېدونکی او حکمت والا دی.

٣ـ جزيه:

په نبوي دولت کې به په کفارو جزيه مقرريده او له دي طريقې به هم رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل اقتصاد قوي کاوه ، جزيه د اهل کتابو او د هغه چا څخه چې د دوی سره مشابه وي لکه مجوس د هغوی څخه به اخيستل کيږي ، عام مشرکين او مرتدين لکه شيعه روافض او داسې نور ، د هغوی څخه جزيه نشي اخيستل کيدلای ، بلکې هغوی به يا اسلام راوړي او که نه نو وژل کيږي به.

رسول الله صلی الله عليه وسلم او خلفاؤ به د جزيې راټولولو لپاره هم خپل عُمال مقررول او د هر عاقل ، بالغ ، نارينه پر سر به يې يو دينار مقرراوه او يا د دې معادل جامې وغيره ، لکه حديث کې نقل دي:

عن معاذ بن جبل -رضي الله عنه- قال: أنَّ رسولَ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ بعثَهُ إلى اليمنِ وأمرَهُ أن يأخذَ من كلِّ حالمٍ دينارًا أو عدلَهُ معافرَ،

[رواه النسائي]

ژباړه: معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمايې: يقينًا رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه يمن ته وليږه او د جزيې په راټولولو يې ورته امر وکړ، چې د هر بالغ شخص څخه يو دينار واخلي او يا د هغه معادل (يمنی) جامې تري واخلي.

نو له دې لارې هم اسلامي نظام ته زيات عوائد راځي چې د مسلمانانو او اسلامي نظام اقتصاد وربانـدې قوي کيږي.

۴ـ زراعت :

په اسلامي نظام کې زراعت هم يوه لويه منبع د اقتصاد ده چې رسول الله په دې باب کې هم پوره توجو کړې وه، چې پدې کې خلکو ته د ځمکو د ابادولو اجازه ورکول ، ځمکې خلکو ته مشخص کول او جدا کول ، د فصل ځمکه خلکو ته ورکول ترڅو حاصلات يې اسلامي نظام ته جمعه شي لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د خيبر څخه بعضې ځمکه خاص کړه چې د هغې څخه به کوم حاصلات راتلل هغه به د وفدونو او نور د مدينې او د اسلامي نظام په حوائجو کې مصرفيدل.

حديث کې راځی:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، " أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَى خَيْبَرَ الْيَهُودَ عَلَى أَنْ يَعْمَلُوهَا وَيَزْرَعُوهَا، وَلَهُمْ شَطْرُ مَا خَرَجَ مِنْهَا "

(صحيح البخاري)

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يهودانو ته د خيبر(ځمکه) ورکړه ، چې دوی به د هغې اصلاح کوي او کَرِي به يې په نيمه برخه د هغه څه چې حاصل کوي.

بل روايت کې راځي:

عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ ، قَالَ : " قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ نِصْفَيْنِ ، نِصْفًا لِنَوَائِبِهِ وَحَاجَتِهِ ، وَنِصْفًا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ .... " (سنن ابي داود:رقم 2619)

ژباړه: له سهل بن ابي حثمه څخه روايت دی هغه وايې: رسول

الله صلى الله عليه وسلم خيبر په دوو برخو وویشه، نيم يې د مصائبو او ارتياوو له لپاره(خاص کړ) او نيم يې د مسلمانانو په منځ کې وويشه....

۵ـ تجارت:

په اسلامي نظام کې بايد تجارت هم وي ترڅو د اسلامي نظام اقتصاد له دي لاري هم قوي شي ، تجارت هغه عمل دی چې اسلام ترغيبات ورکړي بايد مسلمان محنت وکړي ، زيار وباسي او د خپل اهل عيال ترڅنګ بايد اسلامي معاشره او ګاونډ او د خپل نظام د اقتصاد په تقويت کې سهيم شي د همدې لپاره رسول الله صلى الله عليه وسلم نوی بازار جوړ کړ چې د يهودو څخه مستقل وو بيا يې د تجارت او معاملاتو او اخيستلو خرڅولو لپاره خاص قوانين، او اصول او ضوابط بيان کړل چې د احاديثو کتابونو کې ورباندې بابونه تړل شوي.

مثلاً تجارت کې صداقت ، دوکه نه کول ، بيکاره او خراب مالونو څخه ځان ساتل ، خبائث نه خرڅول ، همدارنګه د پيمانې او احتکار او نور مسائل هغه څه دي چې پدې دلالت کوي، چې په نبوي دولت کې تجارت ته ځای ورکړل شوی و.

٦ـ صنعت:

د تجارت ترڅنګ بايد اسلامي نظام صنعت ته هم خاص پاملرنه وکړي او له دي لاري خپل نظام او اقتصاد ته وده ورکړي ، پدې کې دوه فائدې وي يو دا چې د کفارو او کفري ممالکو څخه استغناء حاصليږي او ورسره د خپل رعيت اسانتياوې او اقتصاد قوي کوي...

همدا وجه وه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې د هغه وخت مناسب ، اسلحې جوړيدې چې د تورو ، غشو ، نيزو او زغرو ترڅنګ توپونه هم جوړيدل چې هغه وخت يې ورته منجنيق ويل ، د دې ترڅنګ د ژوند په نورو برخو کې هم پوره کار کيده لکه رختونه جوړيدل ، له څرمنو مختلف لوښي او لباسونه جوړيدل او داسې نور ...

٧ـ رِکاز او معادن (طبعي زيرمي):

رکاز هغه خزانو ته ويلى شي چې د جاهليت والا به دفن کولې او معدنونه او طبعي زيرمې هم اسلامي نظام د اقتصادي منابعو څخه دي چې بايد مسلمانان له دي لاري هم د خپل نظام اقتصاد قوي کړي ، همدا وجه ده دين اسلام پدې باب کې هم ځرګندونې کړي چې د احاديثو په کتابونو کې د رِکاز او معدنونو خپل احکام ذکر شوي.

فائده: پورته بحث څخه معلومه شوه چې اسلام يواځې د عبادت نوم ندی بلکې په اسلام کې د سياست ترڅنګ اقتصاد ، تجارت ، معاملات او نور مختلف اړخونه شته.

د باطلو تنظيمونو مالي منابع:

نن د اسلام په نامه ډيرى تنظيمونه د مسلمانانو ترمنځ وجود لري او خپلو تنظيمونو ته هم د اسلام نسبت کوي ،خو هر بخش يې بيا د اسلام څخه په مخالف لور روان دی چې په مختلفو رسايلو کې په هغه خبره شوې ، دلته يواځې په لنډه توګه د نن زمانې د باطلو تنظيمونو مالي سرچينو ته اشاره کوو.

د طالبانو تش په نامه اسلامي امارت هم يو له هغه تنظمونو څخه دی چې د ايمان د نواقضو ترڅنګ يې په مالي برخه کې هم د اسلامي منابعو پر ځای د کفارو ګدايئ او سوال ته ناست دی!

او ترڅنګ يې سودي او حرام منابع د خپل نظام او افرادو لپاره انتخاب کړي.

دا ځکه ويلای شو چې جهاد دوی تعطيل کړی چې د هغې له لاري د کفارو څخه غنيمتونه حاصل کړي چې يو له پاکو او حلالو رزقونو څخه شميرل کيږي نو ځکه مجبور شول چې د امريکا ډالري کڅوړو او راشن ته کينې!

افسوس دا دی چې امريکا په عين وخت کې د مسلمانانو سره په مختلفو ملکونو کې په جنګ کې بشکيل ده هره ورځ د مسلمانانو بشځې

او بچي بمباروي خو دا بې ضميره بيا د همدې کفارو راشن ته ناست دي او ډالري کڅوړو باندې يې عيش او عشرت برابر کړی!!!

همدارنګه طالب او نورو مرتدو تنظيمونو نن د جزي احکام معطل کړي، نو خامخا به بيا کفارو ته محتاج کيږي.

همدارنګه د حلالو تجارتونو پر ځای يې د سودي بانکونو او سودي معاملاتو دروازې خلاصې کړي، حال دا چې سود هغه عظيم جرم دی چې قرآن او سنت کې يې په حرمت ډير شکاره نصوص نازل شوي او سود خورو ته الله عزوجل د خپل جنګ اعلان کړی او فرمايي: **فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ** [سُورَةُ البَقَرَة : 279]

ژباړه: خو که تاسې داسې و نه کړل د (سود) څخه منعه نه شوئ نو خبر اوسئ چې د الله او د هغه د پيغمبر له خوا ستاسې پر خلاف د جګړې اعلان دی. که اوس هم توبه وباسئ (سود پريږدئ)، نو تاسې د خپلې پانګې اخيستلو حقدار ياست، مه تاسې تيری کوئ او نه به پر تاسې تيری وشي.

امام ابن کثير رحمه الله په خپل تفسير کې د دې ايات د لاندې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما قول او تفسير نقل کړی هغه وايي: ، عن ابن عباس : **(فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ) فَمَنْ كَانَ مُقِيمًا عَلَى الرِّبَا لَا يَنْزِعُ عَنْهُ فَحَقٌّ عَلَى إِمَامِ الْمُسْلِمِينَ أَنْ يَسْتَتِيبَهُ ، فَإِنْ نَزَعَ وَإِلَّا ضَرَبَ عُنُقَهُ.**

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل دي د دې ايات باره کې **(فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ)** به يې ويل : څوک چې په سود کلک ولاړ وي او ورڅخه نه لرې کيږي نو د مسلمانانو په خليفه لازم دي چې طلب د توبې ورڅخه وکړي که له سود څخه منعه شو خه خبره او که منعه نشو نو څټ به يې په توره وهي.

دارنګه د دې باطلو تنظيمونو ډيری مالي برخه د نشه يي موادو لکه ترياک، چرس ، پوډر وغيره څخه توليديږي لکه څرنګه مو چې د امارت په شل کلنه جګړه کې وليدل چې د ترياکو او چرسو څخه به يې زکاتونه او عشرونه اخيستل او يا به يې هم مشرانو د پوډرو کارخانې درلودې او خارجي ممالکو ته به يې قاچاق کول او په همدغه حرامو مالونو باندې يې د جنګ ماشين چالان ساتلی و. حال دا چې دا اتفاقي حرام مالونه دي، حديث کې راځي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، قَالَ : رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا عِنْدَ الرُّكْنِ ، قَالَ : فَرَفَعَ بَصَرَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَضَحِكَ ، فَقَالَ : " لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ ثَلَاثًا : إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْهِمُ الشُّحُومَ فَبَاعُوهَا ، وَأَكَلُوا أَثْمَانَهَا ، وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا حَرَّمَ عَلَى قَوْمٍ أَكْلَ شَيْءٍ حَرَّمَ عَلَيْهِمْ ثَمَنَهُ " (سنن ابي داود: رقم 3029)

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې حجر اسود سره ناست و، هغه وايي: بيا يې خپل نظر اسمان ته پورته کړ، ويې خندل، او ويې ويل: په يهودانو دې الله لعنت وکړي درې ځله (يې دا خبر وکړه) : يقيناً الله په دوی باندې چربي حرامه کړې وه ، نو دوی به وپلورله او د هغې قيمت به يې وخوړ، او يقيناً الله چې کله په يو قوم باندې د يو شيز خوړل حرام کړي، نو د هغه شی قيمت (پيسي) هم وربانديې حرامې کړي.

همدارنګه بل د دې تنظيمونو د حرامو منابعو څخه ټکسونه، ګمرکونه او ماليات دي چې خپل نظام له همدې لارې اکمالوي حال دا چې دا هم حرامه منبع ده.

حديث د صحيح مسلم کې نقل دی، کله چې په غامديه زنانه رجم قائم شو نو بعضې خلکو ورته بد رد وويل نو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: **فَوَالَّذِي**

نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ"(صحيح مسلم: رقم الحديث 3214)

ژباړه: قسم په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې دی ، دې خامخا داسې توبه وویسته چې که چېرته د ټکس والا یې وباسي نو هم ضرور به ورته بخښنه شوې وای.

امام نووي رحمه الله د دې حدیث په شرح کې وایي: **فِيهِ أَنَّ الْمَكْسَ مِنْ أَقْبَحِ الْمَعَاصِي وَالذُّنُوبِ الْمُوبِقَاتِ وَذَلِكَ لِكَثْرَةِ مُطَالَبَاتِ النَّاسِ لَهُ وَظَلَامَاتِهِمْ عِنْدَهُ وَتَكَرُّرِ ذَلِكَ مِنْهُ وَ انْتِهَاكِهِ لِلنَّاسِ وَأَخْذِ أَمْوَالِهِمْ بِغَيْرِ حَقِّهَا وَصَرْفِهَا فِي غَيْرِ وَجْهِهَا.**

(شرح النووي على مسلم: ج11/203ص)

ژباړه: په دې کې دلیل دی چې ټکس (ګمرک) اخیستل د بدترینو نافرمانیو او د هلاکوونکو ګناهونو څخه دی او دا له دې امله چې په دې کې د خلکو څخه غوښتنې ډېرې وي او په ظلم اخستل کیږي او دا په تکرار سره رامنځته کیږي ددی د وجهي نه او د خلکو سپکاوی په کې وي او اخستل د دوي دمالونو دي په کې په ناحقه طریقه او مصرفول د هغي دي په ناحقه طریقه.

د ټکسونو او مالیاتو په اړه د لا زیات تفصیل لپاره د العزائم خپرندویه اداري څخه مستقل خپور شوی کتاب (المدارک في تحریم المکوس والجمارک) مطالعه کړئ.

د دښمن اقتصاد له منځه وړل :

عزتمند مجاهدینو او مسلمانانو!

باید په یاد ولرو چې د خپل اقتصاد تر څنګ به مجاهدین د دښمنانو اقتصاد ته متوجه کیږي، د هغوی اقتصاد به له منځه وړي او خپل دښمن به په اقتصادي لحاظ کمزوری کوي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د مکې والا د قافلې لپاره خاص عملیات وکړل ترڅو خپل اقتصاد برابر کړي او دښمن په اقتصادي لحاظ له پښو وغورځوي . ثمامة بن أثال رضي الله عنه چې کله اسلام راوړ هغه هم دا خبره قریشو ته وکړه چې: "**وَاللَّهِ لَا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ حَبَّةُ حِنْطَةٍ ، حَتَّى يَأْذَنَ فِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ** (مسند احمد رقم الحدیث: 9621)

ژباړه: قسم په الله د یمامې څخه به یوه دانه د غنمو رانشي تاسو ته تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یکې اجازه نه وي کړي.

دا دښمن ته یو مضبوط اقتصادي ګوزار و چې ثمامة بن أثال رضي الله عنه ورکاوه ، نو لهذا په هر لار چې ممکن وي باید مجاهدین هغه لاري استعمال کړي ترڅو د دښمنانو اقتصاد کمزوری کړي ، لکه څنګه چې هغوی هم همدا کار کوي چې همیش د مجاهدینو د اقتصادي منابعو پسې لړیدلي وي ترڅو یې په اقتصادي لحاظ کمزوري کړي.

خاتمه :

عزتمندو مسلمانانو!

که مونږ او تاسې قران او سنت دقیق مطالعه کړو نو پوهه به شو چې دین اسلام مونږ او تاسې ته بار بار په جهاد بالمال امر کوي ، او د دې ترڅنګ د خپل نظام د اقتصاد د قوت سره سره یې ټول مشروع منابع هم مؤمنانو ته په ګوته کړي ، چې باید مؤمنان دغه لارې په کار واچوي ترڅو اقتصاد یې مضبوط شي او د مسلمانانو نظام په خپلو پښو ودریږي ، په همدې اساس اسلامي خلافت هم په خپل نظام کې د اقتصاد د تقویت لپاره مختلف دیوانونه جوړ کړي لکه دیوان الفيء والمغانم ، دیوان الزکاة ، دیوان الزراعة ، دیوان الرکاز ، دیوان بیت المال او داسې نور دیوانونه چې هدف یې همدا دی چې د خپل نظام اقتصاد قوي کړي ، خپل رعیت ته خدمت ورباندې وړاندې کړي ، د خپل نظام دفاع پرې وکړي او ترڅنګ د الله د دښمنانو مقابله ورباندې وکړي.

وصلَّى الله وسلَّم على نبيِّنا محمَّد، وعلى آلِه وصَحْبِه اَجمَعِين

زكات
ورگرێ

اسلام هغه دين دی چې په منلو يې الله تعالی پر مونږ احسان کړی، مونږ لپاره يې غوره کړی، او اسلام ته زمونږ په نسبت يې مونږ ته عزت راکړی، دا دين په پنځو ستنو ولاړ دی او تر هغې د يو بنده اسلام نه سمېږي، ترڅو يې دا ټول نه وي اداء کړي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (بني الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلّا اللّه وأنّ محمّدا رسول اللّه، وإقام الصّلاة، وإيتاء الزّكاة، والحجّ، وصوم رمضان) [متفق عليه]

ژباړه: اسلام په پنځو ستنو ولاړ دی: د دې ګواهي ورکول چې له الله پرته د عبادت لايق څوک نشته او محمد د الله رسول دی، د لمونځ قائمول، د زکات ورکول، حج کول او د رمضان روژه نيول)

د دې ستړو ارکانو له ډلې يو رکن چې ډيری خلک يې د ايمان د کمزوری او د الله او خالق څخه د نه ويريدو له وجې ودرولو ته پاملرنه نه کوي، هغه د زکات رکن دی، هغه رکن چې نفسونه ورسره پاکېږي او د بخل له ځنځيرونو آزادېږي.

د اسلام د ارکانو څخه د دې ستر رکن چې نښې يې تتې شوي او ټول يې ګډوډ شوی، اهميت ته په کتنې د دې رکن د احکامو او د دې مشروعيت هدف روښانه کول لازم دي، ترڅو مسلمانان يې په پوره پول وپيژني او تري خبر شي.

د زکات حقيقت

زکات په لغت کې زياتوالي او غتيدو ته وايي، ويل کېږي: (زكا الزرع إذا نما وزاد) فصل غټ شو، ورسېږ او زيات شو، د زکات سره هم مال زياتېږي، برکت پکې پيدا کېږي او د هلاکېدو، آفتونو او ختمېدو څخه يې ساتي.

عن أبي هريرة -رضي اللّه عنه- أن رسول اللّه ﷺ قال: (ما نقصت صدقة من مال..) [مسلم].

ژباړه: له أبو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: (صدقه (خيرات) مال نه کموي...) [مسلم].

شرعي تعريف: دا په ځانګړي مال کې، د ځانګړي ډلې لپاره په ځانګړي وخت کې، يو واجب حق دی.

د دې لپاره مشروع شوی چې په زړونو کې د ايماني ورورولی، شفقت او مهربانی احساس وکړي، د مسلمانانو ترمنځ د يو بل سره د اوږه په اوږه ودريدو نظام قوي کړي، نفسونه د انانيت، خودپسندی او تمې له خويونو آزاد کړي، خرچه کوونکی د ګناهونو له خيرو پاک کړي او د بخل، سختی او نورو رذيلو خويونو له ګندګيو يې صفا کړي، الله تعالی فرمايي: [خُذْ مِنْ أَمْوٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ] [التوبة].

ژباړه: «[اې پيغمبره!] ته د هغوی له مالونو څخه د صدقې په اخيستلو سره هغوی پاک کړه او (د نيکی په لاره کې) هغوی وهڅوه. او د هغو په حق کې د رحمت دُعا وکړه، ځکه چې ستا دُعا به د هغو لپاره د ډاډينې وسيله وي. الله هر څه اوري او په هر څه پوهيږي»

په اسلام کې د زکات درجه

په دين کې د زکات درجه زياته ستره او ځای يې پورته دی، د قرآن په ډيری آيتونو کې د لمانځه سره پيوسته ذکر شوی، د ايمان د رښتينولی لپاره عنوان او دليل ګرځول شوی، د هغوی چې د الله د ورکړې مال څخه منع کوي او د هغو مؤمنانو ښکاره کوونکی او جلا کوونکی دی، چې د الله امر ته غاړه ږدي او د مال حق ورکوي، چا چې په ايمان، اخلاص، د ثواب په نيت، په خوشاله زړه، د اجر او د الله څخه د بدلې په اميد زکات ورکړ، په اخروي کور کې به نجات، او په دنيا کې به برکت، مال کې زيادت او ډيروالی ومومي، او که چا ترې د کفر په وجه انکار وکړ، يا يې د بخل له وجې منع کړ، په دنيا کې به ترې په زور واخيستل شي او په آخرت کې به ورته د دردونکي عذاب سبب شي.

الله تعالی فرمايي: {إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا الزَّكَوٰةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} [البقرة]، ژباړه: «هو، کوم کسان چې ايمان راوړي او غوره عملونه وکړي او زکات ورکړي، د هغو ثواب بې شکه د هغو له رب سره دی او پر هغو څه ويره او کړاو نشته» بل ځای الله سبحانه وتعالی فرمايي: {وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَا فِيٓ أَمْوَٰلِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوا عِندَ اللَّهِ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن زَكَوٰةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ} [الروم]، ژباړه: «کوم سود چې تاسې ورکوئ، چې د خلکو په مالونو کې په ګډېدلو سره هغه زيات شي، د الله په وړاندې هغه نه زياتيږي. او کوم زکات چې تاسې د الله د خوښی تر لاسه کولو په اراده ورکوئ، د هماغه ورکوونکي په حقيقت کې خپل مال زياتوي» ابن کثير فرمايي: يعنې هغه کسان چې الله ورته څو چنده بدله او ثواب ورکوي، لکه په صحيح کې دي: (وما تصدق أحد بعدل تمرة من كسب طيب إلا أخذها الرحمن بيمينه، فيربيها لصاحبها كما يربي أحدكم فلوه أو فصيله، حتى تصير التمرة أعظم من أحد)، ژباړه: (يو کس د حلال کسب څخه د يوې کجورې هومره صدقه نه کوي، مګر رحمان ذات يې په ښي لاس اخلي او د دې صدقه کوونکي لپاره غټوي، لکه يو څوک چې د آسپي يا د اوښ بچی غټوي، تر دې چې دا کجوره له احد غر لويه شي)" [التفسير].

د زکات په اداء کولو کې د کمي او بې غورۍ کولو خطر

ډيری آياتونه او نبوي احاديث راغلي چې د هغه چا په حق کې په کې سخت وعيد

راغلی چې زکات د بخل او شومتیا له وجې نه ورکوي، یا یې کم مقدار ورکوي، یا یې چې وخت د وتلو پوره شي، ژر یې نه ورکوي، الله تعالی فرمایي: {وَوَیْلٌ لِلْمُشْرِكِینَ * الَّذِینَ لا یُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ بِالآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ} [فصلت]، ژباړه: «او هلاکت دی د مشرکینو لپاره، هغه کسان چې زکات نه ورکوي او په آخرت کفر کوونکي دي» کله چې یو کافر او یا له مؤمنانو څخه د عذاب کوم مستحق په قبر کې کیښودل شي، نو ډیر سخت، بوږنوونکي او ډاروونکي صحنې وویني، کله چیرې د زکات له منع کوونکو څخه و، نو له مال، پیسو، درهمو او دینارو څخه به ورته یوه بدشکله اژدها جوړه شي، چې زهر به تریې څاڅي، بیا به یې له بدن څخه تاو شي، اول به یې لاس تیر کړي، هغه به وژوي بیا به وریسې همداسې ټول بدن یې وخوري، په بخاري کې د أبو هریره څخه مرفوعا نقل دي، فرمایي: (من آتاه الله مالا، فلم یؤدّ زكاته مثّل له ماله یوم القیامة شجاعا أقرع له زبیبتان یطوّقه یوم القیامة، ثمّ یأخذ بلهزمتیه -یعني بشدقیه- ثمّ یقول أنا مالك أنا كنزك، ثم تلا علیه السلام قوله تعالی: {وَلاَ یَحْسَبَنَّ الَّذِینَ یَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَیْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَیُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ یَوْمَ الْقِیَامَةِ وَلِلّهِ مِیرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِیرٌ} [آل عمران].

ژباړه: چا ته چې الله مال ورکړي او هغه بیا زکات اداء نه کړي، مال به یې د قیامت په ورځ د یو خطر ناک سپین سري مار (اژدها) په شکل شي، چې د سترګو د پاسه به یې دوه تور ټاکي وي، دا به یې له غاړې تاو وي او دواړو وخکو باندې ورته چکونه لګوي او ورته به وایي: زه ستا مال یم، زه ستا خزانه یم، بیا نبي ﷺ دا آیت ولوست: ژباړه: «کومو خلکو ته چې الله له خپل فضل څخه ورکړه کړې وي؛ او بیا هغوی له بخیلۍ څخه کار واخلي، هغوی دې دا نه ګڼي چې دا بخیلي د هغو لپاره ګټوره ده. نه، دا د هغو لپاره ډېره بده ده. څه شی چې هغوی په خپله شومتیا راغونډوي، هماغه به د قیامت په ورځ د هغو د غاړې طوق شي. د اسمانونو او ځمکې میراث یوازې د الله دی. او تاسې چې څه کوئ، الله پرې خبر دی» دا په برزخي ژوند کې د هغه چا عذاب دی چې په مال بخل کوي او عذاب نه ورکوي، هر چې د جهنم عذاب دی، نو د هغې خبر الله داسې ورکړی دی:

{وَالَّذِینَ یَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا یُنفِقُونَهَا فِي سَبِیلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِیمٍ * یَوْمَ یُحْمَىٰ عَلَیْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ} [التوبة]. ژباړه: «او هغه خلک چې سره او سپین زر خزانه کوي او د الله په لاره کې یې نه لګوي؛ نو دوی ته د دردناکه عذاب زیری ورکړه، یوه ورځ به راشي چې په همدې سرو سپینو زرو به د دوزخ اور ګرم کړای شي او بیا به په هغو سره ددې خلکو تندي، اړخونه او شاګانې داغ کړه شي. دا هغه خزانه ده چې تاسې د خپلو ځانونو لپاره غونډه کړې وه. واخلئ، اوس د خپلې زیرمه کړي شتمنۍ خوند وڅکئ».

د زکات هغه مالونه چې دې خلکو منع کړي دي دا به اور ته واچول شي، کله چې ښه ګرم شي، بیا به پرې د دوی تندي، اړخونه او شاګانې داغل کیږي، نو دا خومره سخت عذاب دی او ای خومره افسوس دی پر هغه چا چې مال جمع کړي او زکات په کې ورنکړي!

نو ای د مال جمع کوونکیه، ساتونکیه او پکې د الله حق نه ورکوونکیه، د مال د زکات په ویستلو کې دې بیړه وکړه، دا ټول مالونه د سوال دي، او حتمي به

خپل مالک ته ګرځي، نو که چا په کې د الله حق ورنکړ، قریبه ده چې په زړه یې د نفاق مهر ووهل شي، نو بیا به تري هیڅ ډول خرچې او صدقات قبول نه شي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: [وَمِنْهُم مَّنْ عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ آتَانَا مِن فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ * فَلَمَّا آتَاهُم مِّن فَضْلِهِ بَخِلُوا بِهِ وَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ * فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ]. [التوبة]، ژباړه: «له دوی څخه ځینې داسې هم دي چې له الله سره یې ژمنه کړې وه چې: که هغه په خپل فضل سره پر موږ لورینه وکړه، نو موږ به خیرات ورکړو او نیک عمله به شو، خو کله چې الله په خپل فضل سره هغوی شتمن کړل، نو هغوی بخیلي غوره کړه او له خپلې ژمنې څخه داسې وګرځېدل چې پر هغې باندې یې پروا قدرې نشته، نتیجه دا شوه چې د هغوی ددې بد لوزې له امله چې له الله سره یې وکړه او د هغو درواغو له امله چې وایي یې، الله د هغو په زړونو کې نفاق واچوه. د هغه حضور ته د وړاندې کېدو تر ورځې پورې به په هغه (نفاق)پسې تګ پرېنږدي».

هغه مالونه چې زکات پکې واجب دی

لومړی ډول: څاروي، چې په دې کې اوښان، غواګانې او ګډې بیزې شامل دي، کله یې چې شمېر ټاکلي حد ته ورسېږي، په څرځایونو کې څرېږي، او شپون ورته ټول کال یا ډېری وخت خوراک په اخور نه وي ورکړی، په دې څارویو کې د زکات وجوب د رسول الله ﷺ په ډېری احادیثو کې ثابت دی او د اسلام علماوو پرې اجماع کړې ده.

دوهم ډول: په هغو فصلونو او میوو ګې هم زکات واجب دی چې ذخیره کېږي او پیمانه کېږي، خو چې کله پنځه وسقو ته ورسېږي، وسق معلومه پیمانه ده، چې شپېته صاعه کېږي او یو لوښی یې تقریبا د 647 کیلو ګرامه غنمو سره مساوي کېږي، دا فصلونه چې کله د روانو چینو، ویالو او بارانونو په اوبو بې له کوم مصرفه خړوب شي عشر زکات پکې واجب دی، او که خړوبول یې په مصرف وي (ټیوب، کاریز وغیره) یا لکه په برېښنایي آلاتو، څارویو او نورو شیانو سره چې خړوبېږي، بیا به پکې نیم عشر یا شلمه برخه زکات ورکول کېږي، الله تعالی فرمایي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ}، ژباړه: «ای مؤمنانو، هغه پاک او حلال مالونه چې تاسې ګټلي دي او هغه چې مونږ یې ستاسو لپاره له ځمکې څخه راباسو، د هغې یوه برخه خرچ وکړئ» او له نبي ﷺ څخه هم ثابت دي، فرمایي: (فيما سقت السّماء والعيون أو كان عثريّا العشر، وما سقي بالنّضح نصف العشر) [البخاري]. ژباړه: (په هغه څه کې چې آسمان او چینې یې خړوبوي یا یې خړوبول آسان وي (ویالې سیندونه) لسمه برخه (زکات) دی، او هغه چې په څارویو باندې خړوبیږي هغې نیمایي لسمه (شلمه) برخه ده) [البخاري].

درېیم ډول: پیسې دي، او په دې کې سره زر چې 85 ګرامو ته ورسېږي او سپین زر چې 595 ګرامو ته ورسېږي شامل دي، خو چې یو کال پرې تېر شي، په دې کې د سرو او سپینو زرو د ټول مقدار (ګرامونو) د لسمې څلورمه برخه قیمت زکات ویستل کېږي، د أثمان (پیسو) په معنا کې مروجه کاغذي پیسې هم داخل دي، برابره خبره ده که محلي پیسې وي او که بهرنۍ، خو کله یې چې قیمت د سپینو زرو نصاب (595 ګرامه) ته ورسېږي او یو کال پرې تېر شي، نو په دې کې به د لسمې حصې څلورمه برخه زکات ویستل کېږي، او په دې

د نبي ﷺ دا خبره دليل دی چې علي بن أبي طالب ته يې فرمايلي و: **(إذا كان لك مائتا درهم وحال عليها الحول ففيها خمسة دراهم وليس عليك شيء حتى يكون لك عشرون دينارا وحال عليها الحول ففيها نصف دينار فما زاد فبحساب ذلك)** [أبو داود].

ژباړه: (كه تاسره دوه سوه درهم وي او يو كال پرې تير شي، نو په دې كې پنځه درهم زكات دی، او تر هغې درباندې (سرو زرو) كې څه نشته تر دې چې شل دينارو ته ورسيږي، نو بيا پكې نيم دينار دی او كه له دې زيات وي نو په همدې حساب سره) [أبو داود].

څلورم ډول: د تجارت او سوداګرۍ توكي، له دې څخه مراد ټول هغه شيان دي چې د پيرلو او پلورلو لپاره تيار وي، لكه قيمتي غمې، ګاڼې، خوراكي څيزونه، حيوانات، ځمكې، د كور سامانونه، جامې، موټرونه، هر قسم مواد، كباړ، او نور سوداګريز توكي... څو كله يې چې قيمت د 595 ګرامه سپينو زرو سره مساوي شي او يو كال پرې تير شي، نو بيا پكې د ټول قيمت د لسمې برخې څلورمه حصه زكات واجب دی، فعن سمرة بن جندب قال: **(كان رسول الله يأمرنا أن نخرج الصدقة مما نعده للبيع)** [أبو داود].

ژباړه: له سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي: (رسول الله ﷺ به مونږ ته امر كاوه چې په هغه څه كې زكات وركړو چې مونږ يې د خرڅلاو لپاره تيارو) [أبو داود].

د ذكر شويو له جملې څخه به د هر څيز زكات له هماغه جنس څخه ويستل كيږي، مګر د سوداګريزو توكو زكات به د هماغه توكو څخه نه ويستل كيږي، بلكې قيمت به يې په زكات كې وركول كيږي.

نور هم ډيرې مسائل او احكام او ډولونه په همدې قواعدو بناء كيږي، كوم مو چې ذكر كړل، او مسلمان ته پكار ده چې كوم ځای كې ورته ستونزه پيدا كيږي او يا اشكال ورته كومه مسئله كې جوړيږي، بيا دې په دې مسأله كې علماوو ته رجوع وكړي.

د زكات اهل او مستحقين (وړ) خلك څوك دي

الله تبارك وتعالى د زكات او عشرونو په وركړه كې خپله تقسيم كړی او يو نبي د انبياوو څخه هم دا تقسيم نه دی كړی، الله تعالى د زكات مستحقين اته ډوله خلك ښودلي، او فرمايلي يې دي چې همدوی د دې وړ دي چې زكات وركړل شي او له دوی پرته يې بل چاته وركول جائز نه دي، او كه چا له دې پرته بل چاته زكات وركړ، داسې معنا يې ده لكه د يو لمونځ وخت چې نه وي داخل او څوك لمونځ وكړي، دا اته ډلې په لاندې ډول دي:

لومړی: فقيران، دا هغه خلك دي، چې نه مال لري او نه د كار او كسب توانايي لري.

دوهم: مسكينان، دا هغه خلك دي چې يو څه كسب او كار كوي، خو هغه يې اړتياوې نه پوره كوي او نه ورته بسنه كوي.

دريم: عاملين، دا هغه خلك دي چې د خليفه او امام په امر زكات، صدقات او عشرونه راټولوي.

څلورم: مؤلفة القلوب، دا هغه خلك دي چې زكات ورته له دې وجې وركول كيږي چې زړونه يې نرم شي او اسلام ته يې رغبت پيداشي، خو بعضو علماوو ويلي چې دا ډله خلك د دين د پوره كيدو او بشپړيدو سره ختم شوي دي.

پنځم: غلامان، دا له مسلمانانو څخه هغه مكاتب غلامان دي، چې له بادارانو خپله آزادي په پيسو اخلي، او په دې كې هغه بنديان هم شامل دي چې د دښمن په لاسونو كې ګير دي، هغوی ته هم زكات وركول كيږي.

شپږم: قرضداران، دا هغه خلك دي چې د مباح يا نيك كار لپاره يې پيسې قرض كړې وي او بيرته له پوره وركولو او ختمولو څخه

عاجز وي.

اووم: د الله په لار کې، له دې څخه هدف د الله په لاره کې جهاد دی، لکه د وسلو اخيستل، د خندقونو کنستل، د مجاهدينو مجهز کول او نور...

اتم: لاروی، دا هغه مسافر او ناآشنا خلک دي چې په لاره کې يې پيسې خلاصې کړې وي، او دومره پيسې ورسره نه وي چې خپل ښار ته پرې ځان ورسوي، نو دوی ته به هم دومره زکات ورکول کيږي چې دا پرې خپلې سيمې ته ورسيږي.

الله تعالی فرمايي: {إِنَّمَا الصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسَٰكِينِ وَالْعَٰمِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ} [التوبة]، ژباړه: «دا صدقې (زکاتونه) خو په اصل کې د فقيرانو او مسکينانو لپاره دي، او د هغو خلکو لپاره دي چې د صدقو د چارو مامورين وي، او د هغو لپاره چې زړونه يې په لاس راوړل مقصد وي. دغه راز دا د غاړو د ازادولو او د پوروړو د مرستې لپاره د الله په لار کې (مجاهدينو او جهاد) او په مسافر پالنه کې د استعمالولو لپاره دي. د الله له لوري يوه فريضه ده؛ او الله په هر څه پوهيدونکی او د حکمت څښتن دی».

که چيرې سوداګر، د مالونو خاوندان، د جايدادونو او ځمکو لرونکي، مالدار، د کاروبار او معاشاتو خاوندان د خپلو مالونو سم زکات وباسي او دوکه او نيمګرتيا په کې ونه کړي، نو مونږ به په ټولنه کې سوالګر، فقير، مسکين، بې سرپرسته او بې ماله څوک ونه مومو، مګر اوسنی حالت د بخل او د نفسونو د شومتيا له وجې رامنځته شوی، والله المستعان.

له الله جل جلاله څخه غواړو چې په ځمکه اسلامي دولت ته تمکين ورکړي، تر څو له شتمنو مسلمانانو مالونه واخلي او په اړمنو او فقيرانو يې د رب العالمين د امر موافق وويشي.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

د روژې ځینې احکام
او مسائل

الحمد لله الذي جعل الصيام من أركان الإسلام ومنّ على عباده بمواسم التوبة والمغفرة والإكرام، والصلاة والسلام على خير الأنام الذي بشر من صام رمضان إيمانا واحتسابا بغفران الخطايا والآثام.

امابعد

قال الله تعالى : **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ.** البقرة ~ ۱۸۳

مومنانو مسلمانانو ' يقينا رب العلمين زمونږ دين كامل او پوره كړي دى او دا په موږ او تاسي دد الله غټ نعمت دى ، نو د عاقل مومن مسلمان صفت دادى چې كله په دين اسلام كې د ډيرو فضيلتونو أجرونو او ثوابونو وخت يا ځاۍ مونده كړي نو دا ورته خوشحاليږي او د يو غټ نعمت په نظر ورته ګوري او په دغه وخت او ځاۍ كى د خپل رب مختلف عبادتونه كوي او د ګناهونو نه ځان ساتي نو دغه د رمضان مياشت او وخت د ډيرو اجرونو ثوابونو او فضيلتونو ګټلو وخت دى او د خپل نفس د تربيت كولو او اصلاح كولو مياشت او وخت دى هر انسان ته پكار دي چې په دى مياشت كې خپل نفس ته د رب العلمين په عبادت باندى تربيت وركړي او د عبادت خوند ورته ملاؤ شي او هر انسان ته پكار دي چې خپل نفس د ګناهونو نه په لرې كيدو سره عدت كړي او په نفس كې يې د هر قسم ګناه سره نفرت پيدا شي دغه د رمضان مياشت د اسلام د أحكاماتو زده كولو مياشت ده نو هر انسان ته پكار دي چې ددى مياشتي عزت او احترام وكړي.

مومنانو مسلمانانو ' په دى مقاله كې بعضې أحكام او مسائل د رمضان ذكر كوو دى دپاره چې مسلمانان د رمضان احكام او مسائل زده كړي او بيا د رمضان وخت او مياشت په نبوي طريقى سره تيره كړي او د رمضان اجرونه ثوابونه او فضيلتونه ورته ملاؤ شي.

په اول كې د روژې اقسام ذكر كوو.

اول:
د روژې اقسام

روژې په دوه قسمه دي:

۱ ـ فرضي روژې

۲ ـ نفلي روژې

فرضي روژې بيا په درې قسمه دي:

۱ ـ د رمضان روژې

۲ ـ د كفارو روژې

۳ ـ د نذر روژې

خو مونږ په دى مقاله كې د رمضان د روژو بعضى أحكام او مسائل ذكر كوو:

دويم:
د روژې تعريف

لغوي معنا " صيام په عربى ژبه كې د يو شي نه ځان بندولو ته وايي.

شرعي معنا " الإمساك عن الأكل والشرب وسائر المفطرات مع النية من طلوع الفجر الصادق إلى غروب الشمس.

ترجمه "په شريعت كې روژه ديته وايي چې د سحر راختلو نه تر ماښامه پورې د عبادت په نيت باندى د روژې ماتوونكو شيانو نه ځان ساتل لكه خوراك ځښاك جماع وغيره.

دريم:
د روژې أركان

د مخكې تعريف نه معلوميږي چې د روژې دوه ركنونه دي

۱ـ د سحر داخليدلو نه تر ماښام پورې د روژې ماتوونكو شيانو نه ځان ساتل.

دليل " الله تعالى فرمايي: **فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ** البقرة ~ ۱۸۷

ترجمه " نو اوس د خپلو ميرمنو سره كوروالې كوۍ او ولټوۍ هغه څه " يعني هغه اولاد " چې الله ستاسو دپاره ليكلي دى او خوراك ځښاك كوۍ تر دى چې د سبا سپين تار درته ښه واضحه شي " يعني د صبح صادق رڼا درته ښكاره شي " د تور تار

یعني د شپې نه او بیا روژه پوره کېږئ تر شپې پورې یعني ماښام پورې.

مطلب دا چې د شپې ستاسو دپاره خوراک څښاک جماع وغیره جائز دي تر سحر داخلیدو پورې خو چې کله سحر وخت داخل شي نو بیا تر ماښام پورې د روژې ماتوونکو شیانو نه ځانونه وساتئ او روژه تر ماښام پورې پوره کړئ.

۲ ـ رکن نیت دی " ځکه چې د رمضان روژه د الله تعالی عبادت دی او عبادت نه صحیح کیږي مگر په نیت سره صحیح کیږي او یو انسان به د عادت یا مرض او بیماري د وجې خوراک نه کوي او یا به یې خوراک ته زړه نه کیږي نو دی انسان ته خو مونږ روژه دار نشو ویلې.

امام نووي رحمه الله په روضة الطالبین ۱/۲۶۸ ـ کې وایي " **لا یصح الصوم إلا بنیّة، ومحلها القلب.**

ترجمه " روژه د نیت نه بغیر نه صحیح کیږي او د نیت ځائ چې دی هغه زړه دی.

او په حدیث د بخاري او مسلم کې دي " نبي علیه السلام فرمایي "**إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى،...**

ترجمه ' یقینا د عملونو قبلیدل، جوړیدل او خرابیدل په نیت سره دي او د هر سړي دپاره هغه څه دي چې ده یې نیت کړې وي.

" بیا د نیت سره درې خبرې لازم دي "

۱ ـ اول خبره دا چې دغه نیت به یقیني وي شک به پکې نه وي ځکه چې د شک روژه نه صحیح کیږی.

الهدایة ۲/۲۴۸ ـ والروضة ۲/۳۵۳ ـ وکشاف القناع ۲/۳۱۵

۲ ـ دویمه خبره : تعیین دی

" لکه امام نووي رحمه الله په روضة الطالبین ۲/۳۵۰ ـ کې او ابن قدامه په المغني ۳/۲۳ ـ کې وایي " په نیت کې به د رمضان د روژې تعین خامخا کوي ځکه چې صرف د روژې نیت کول صحیح نه دي.

مطلب دا چې یو انسان د رمضان روژه نیسي نو په زړه کې به د رمضان د روژې اراده کوي ځکه چې روژې خو ډیری دي او په نیت سره یو عبادت د بل نه جدا کول پکار دي.

۳ ـ دریمه خبره : التبیت " یعني د شپې نه نیت کول. نو څوک چې فرضي روژه نیسي هغه ته پکار دي چې د سحر داخلیدو نه مخکې د روژې نیولو نیت وکړي.

دلیل " په حدیث د ترمذي.۷۳۰ نسائي .۲۳۳۱ او ابن ماجه کې دي. حفصه رضی الله عنها فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي " **مَنْ لَمْ يُبَيِّتِ الصِّيَامَ قَبْلَ الْفَجْرِ فَلَا صِيَامَ لَهُ** "

ترجمه " چا چې د سحر داخلیدلو نه مخکې د روژې نیولو نیت ونه کړو نو دده روژه نه صحیح کیږي.

او د رمضان روژو دپاره یو نیت نه کافي کیږي بلکې د هرې روژې دپاره به انسان د سحر داخلیدلو نه مخکې نیت کوي ځکه چې هره روژه ځانته عبادت دی اوله روژه ځانته عبادت دی او دویم ځانته او دریمه وغیره ځانته عبادت دی او د یوې روژې په اصلاح کیدو خراپیدو او سر ته رسیدو سره خو بله روژه نه اصلاح کیږي نه خراپیږي او نه سر ته رسیږي . او دغه خبره د مسلمانانو د مرکز نه رسمي نشر شوی ده.

ځلورم:
د رمضان د روژو حکم

د رمضان روژې په هر مسلمان بالغ عاقل، په صحت روغ او مقیم باندې فرض دي

او د رمضان د روژو فرضیت په قرآن حدیث او اجماع سره ثابت دی.

د قرآن نه دلیل " الله تعالی فرمایي " **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ** . بقرة ~۱۸۳

ترجمه " ای مومنانو په تاسو روژه فرض کړې شوی ده لکه څنګه چې ستاسو نه مخکې خلکو باندی فرض کړې شوی وه دی دپاره چې تاسو پرهیزګاره شئ.

حدیثو نه دلیل: په حدیث د بیهقي، نسائي، او مسند أحمد کې دي ابو هریره رضی الله عنه فرمایي " چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي " **قَدْ جَاءَكُمْ رَمَضَانُ، شَهْرٌ مُبَارَكٌ،**

افْتَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ،..

ترجمه " رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي " یقینا تاسو ته د رمضان مبارکه میاشت راغله او ددی میاشتې روژې الله په تاسو فرض کړی دي.

اجماع: ابن قدامه په المغني ۴/۳۲۴ ـ کې او ابن حزم په مراتب الاجماع .ص.۷۰ ـ کې او ابن عبدالبر په تمهید ۲/۱۴۸ ـ کې وایي " **فقد أجمع المسلمون على وجوب صيام رمضان، و أجمعوا على أنّ من أنكر وُجوبه كفر...**

ترجمه " یقینا د مسلمانانو په دی خبره باندی اجماع چې د رمضان روژې فرض دي او په دی یې هم اجماع ده چې څوک ددغه روژو د فرضیت نه انکار وکړي نو هغه انسان کافر دی.

پینځم:

د رمضان د روژو مراتب

د رمضان د روژو دري مرتبی دي

